د قانونپوه عبدالوهاب صافی د زوکړې د کلیزې په ویاړ

# د اساسی قانون علویت

## قانونپوه عبدالوهاب صافی

بیا لیکنه او دیجیتال جوړښت: قاسم آسمایی

دیجیتال خپرونکی: د راه پرچم انتشارات

د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم: د اساسی قانون علویت

مؤلف: قانونپوه عبدالوهاب «صافی»

لومړی چاپ: د  افغانستان د اساسي قانون د شورا له خوا آریانا مطبعه ۱۳۶۸

بیا لیکنه او دیجیتال جوړښت: قاسم آسمایی

دیجیتال خپرونکی: د راه پرچم انتشارات فبروری ۲۰۲۲

# فهرست


در بارهٔ کتاب «د اساسی قانون علویت» أ

یادونه ه

لومړی برخه ۱

د افغانستان جمهوریت اساسی قانون ته یوه کتنه ۱

دویمه برخه ۱۸

د اساسی قانون علویت او د اساسی قانون سره د قوانینو سمون ۱۸

دریمه برخه ۲۸

قضایی څارنه او د اساسی قانون محکمی ۲۸

څلورمه برخه ۷۵

غیرقضایي څارنه او د اساسي قانون د ساتنې اورگانونه ۷۵

په ډېره مینه يې خپلې ېواځینی او ګرانی لور ناهید
ته اهدا کوم
ع. صافی

## در بارۀ کتاب

## «د اساسی قانون علویت»

این اثر ارزشمند حقوقی جناب قانون‌پوه عبدالوهاب صافی حقوق‌دان بلندمرتبت افغانستان، سی و دو سال قبل در شهر کابل و در مطبعه آریانا به چاپ رسیده است و اکنون به همت حقوق‌دان سابقه‌دار و فرهنگی همیشه جویا و کوشا جناب محمدقاسم آسمایی به شکل دیجیتال آماده و در کهکشان انترنیت در اختیار هم‌مسلکان و علاقمندان قرار دارد.

جناب قانون‌پوه عبدالوهاب صافی، یك نام آشنا در مقیاس کشور و در میان اهل حقوق و شرعیات و کارمندان شش دهه اخیر ارگان‌های حراست حقوق، محاکم، ثارنوالی، وزارت عدلیه و فاکولته‌های حقوق و شرعیات می‌باشد.

جناب صافی تعلیمات علوم شرعی و حقوق را در فامیل، دارالعلوم عربی، پوهنتون کابل و در سطوح عالی در خارج کشور فرا گرفته است و از آغاز دهه چهل شمسی به کار در بخش تقنین وزارت عدلیه آغاز و در کار تدوین، قوانین که بویژه بعد از انفاذ قانون اساسی دهۀ مشروطیت رونق زیاد یافته بود، شرکت فعال داشت و در سال‌های بعدی در سمت رییس تقنین، معین و در در اوایل دهۀ شصت شمسی به حیث وزیر عدلیه، لوی ثارنوال و عضو شورايعالی ستره محکمه، در تکامل سیستم قانون گذاری، ترویج افاده سیادت قانون و تحکیم حاکمیت قانون مصدر خدمات بزرگ به وطن گردیده است.

طی این سالیان متمادی، استاد عبدالوهاب صافی دانش و تجربه پربار خود را از طریق تدریس در فاکولته‌های حقوق، شرعیات،

کورس‌ها، سمینارها و نشر آثار پر ارزش به نسل جوان منتقل نموده است.

این اثر جناب قانون‌پوه «د اساسی قانون علویت» به زبان ملی پشتو و متن سلیس طی چهار بخش این موارد را :

- نظری به قانون اساسی جمهوری دوم افغانستان
- علویت قانون اساسی، تطابق قوانین عادی با قانون اساسی
- نظارت قضایی و تحکیم قانون اساسی
- نظارت قضایی و ارگان حفظ قانون اساسی

مورد مطالعه و معرفی قرارداده است.

در شروع بخش اول مولف بر اصطلاح قانون اساسی (Constitution) و تاریخچه آن در جهان مکث ارزشمندی نموده و معلومات لازم را در مورد سیر تحول این مفهوم از روم باستان و تا قرن هشتم ترسایی و قوانین اساسی ایالات متحده امریکا و فرانسه ارائه نموده است.

درین بخش همچنان بر سیر قانون اساسی در افغانستان و از نخستین قانون اساسی در عهد شاه امان‌الله و سه قانون بعدی آن موارد اساسی را خاطر نشان ساخته است.

در بخش اول بر چگونگی تدوین پنجمین قانون اساسی افغانستان به صورت مشروح صحبت گردیده است.

در نیمه دوم سال (۱۳۶۴ شمسی) ببرک کارمل فقید کمیسیون تدوین قانون اساسی را ایجاد نمود که در نخستین جلسهٔ آن در ماه حوت همان سال از میان کمیسیون، نه تن به حیث کمیتهٔ تسوید انتخاب گردیدند.

ریاست این کمیته را شخصیت بزرگ ملی و علمی عبدالرحیم هاتف فقید عهده دار و جناب اکادیمیسین دوکتور سرابی متخصص علوم اقتصادی، منحیث معاون، جناب دوکتور مجاز استاد سابقه دار فاکولته حقوق (منشی کمیته) و پوهاند دوکتور مصئون متخصص بزرگ حقوق بین الدول، زنده‌یاد قانون‌پوه محمدیعقوب کمك متخصص عرصه قانون‌گذاری، دانشمند متبحر و متجرب علوم شرعی و حقوقی شاد روان محمداکرم عبقری، پوهنیار ملیزی طوطاخیل فقید و میر عبدالواحد سادات، به شمول مولف کتاب، جناب قانون‌پوه صافی اعضای کمیته بودند.

مولف گرامی درین بخش چگونگی کار کمیته تسوید قانون اساسی و آماده ساختن طرح اولی قانون اساسی را با نظر داشت تجارب قبلی کشور و مطالعه تعداد زیاد قوانین اساسی کشور های جهان را بیان نموده است و از نحوه نظرخواهی و بحث گسترده پیرامون طرح در مجامع علمی، اجتماعی، سیاسی و فرهنگی کشور تجربه آن دوره را بازگو نموده است.

در بخش دوم و سوم کتاب موارد مسلکی و در مطابقت با نصوص قانون اساسی در رابطه به تطابق قوانین عادی با قانون اساسی، نظارت قضایی و تحکیم قانون اساسی وجود دارد که برای محققان و محصلان حقوق حایز اهمیت زیاد می باشد.

در بخش چهارم ارگان شورای قانون اساسی در افغانستان که با توشیح قانون اساسی توسط داکتر نجیب‌الله شهید، بحیث رئیس آن شورا تعین گردید و در ترکیب آن برجسته ترین متخصصین علم حقوق وعلوم شرعی، مطابقت قوانین مصوب پارلمان را با قانون اساسی بررسی می‌نمودند، معرفی نموده است و قوانین اساسی پانزده کشور را مرتبط به چگونگی فعالیت ارکان قوای سه گانه دولت و

همچنان ارگان نظارت بر تطبیق قانون اساسی مطالعه نموده که از اهمیت بلند تحقیقی برخوردار است.
اصالتاً و به وکالت از شورای رهبری انجمن حقوقدانان افغان در اروپا، باز نشر دیجیتال این اثر ارزشمند حقوقی را به مؤلف گرامی و یگانه دختر شان محترمه ناهید جان که پدر مهربان کتاب را به ایشان اهدا نموده بود، مبارک باد گفته و به همسلک گرامی و همکاران گران ارج جناب آسمایی ورجاوند مراتب امتنان تقدیم گردد.

با حرمت
میر عبدالواحد سادات
رییس انجمن حقوق‌دانان افغان در اروپا

## يادونه

د دی کوچنی رسالي يو څه مطا لب د مقالو، يادداشتونو او مرکو په بڼه د ډله‌ايزو اطلاعاتو د وسايلو له لاری ترمخه هم خپاره شوی دی.

پدی رساله کی نومو‌ړو خپره شوو مطلبونو ته نوی کتنه شوی ده، ځينی غيرضروری مطالب تری حذف شوی او ځينی په زړه پوري او نوی معلومات پری ورزيات شوی دی.

پدی رساله کی د بيلابيلو هيوادونو د اساسي قانون په شوراګانو، محکمو او اړوندو اورګانونو برسيره د نومو‌ړو هيوادونو په اساسي قوانينو او همدا رنګه د دولتي او عامه قواو په تشکيلاتو چی د اساسی حقوق د مطالعی يوه مهمه برخه جوړوی، رڼا اچول شوې ده.

ګران لوستونکی او په تيره بيا د حقوقو پوهانو به له ما سره همنوايی ولری چی د اساسي قانون د علويت او د هغه سره د قوانينو د سمون لرلو د څارنی د اړوندو اورګانونو او موسسو په هکله زموږ په هيواد کی زياته څيړنه يا نه ده شوې او که شوې هم ده د يو محصل او محقق تنده پری نه ماتيږی.

لدي امله که ګران لوستونکی پدې رساله کی ځينی نيمګړتياوی ګوری (چی ضرور به يی وګوری) مهربانی دی وکړی د هغو د له مينځه وړلو لپاره دی خپلی عالمانه نظريی او انتقادونه ما ته را واستوی چی د دی رسالی په راتلو نکی چاپ کی په پام کې ونيول شي.

د ګرانو لوستونکو او په تيره بيا د حقوق پوهانو څخه همدا رنګه

هیله کوم چی که د اساسی قانون سره د قوانینو د سمون لرلو د څارنی د اړوندو او موسسو په هکله نوی منابع او مدارك ولری، ما ته به یې را استول و نه سپموی.

په آخره کی خپله دنده بولم چی له ګران دوست ډاکتر محمدسلیم مجاز د اساسي قانون د شورا له غړی څخه چی د اساسی قانون د شورا په تاسیس او د دی اثر د ځینو مدارکو په تهیه کولو کی یې زیار ایستلی دی او همدا رنګه د ګران ورور غفار ګرامی د ولسی جرګی د خپرونو له رئیس څخه چی زما د یاداشتونو په را ټولولو او تنظیم کی یې مرسته کړی ده د زړه له کومې مننه وکړم.

په درناوی عبدالوهاب صافي
د اساسی قانون د شورا رئیس

# لومړی برخه

## د افغانستان جمهوریت اساسی قانون ته یوه کتنه

مقدمه:

د اساسی قانون انگلیسی اصطلاح (Constitution) د لاتینی (Constituti) څخه اخیستل شوی ده چی د (تاییدوم او ټاکم) معنی لری. نوموړی اصطلاح څخه د روم په امپراطوري کی هم کار اخیستل کیده او د رومی امپراطوری د ټولو هغو مقرراتو او فرمانونو انعکاس و چی د حقوقو د منابعو مفهوم یی درلود.

د اساسی قانون د اصطلاح څخه یو وخت د ځینو کلیسائی مقرراتو د تعبیر په هکله هم کار اخیستل کیده.

نوموړی اصطلاح د اتمی پیړی په سیاسی قاموس په یو بل ډول را منځ ته شو او د هغو مقرراتو د مجموعی په حیث وپېژندل شوه چی د یو دولت اساسی تشکیلات تنظیموی.

که څه هم چې د اساسي قانون لومړی تعاملی سندونه په اولسمه پیړی کی په انگلستان کی مینځ ته راغلل خو د امریکی د متحدو ایالاتونو اساسی قانون د نړی تر ټولو لومړی لیکل شوی اساسي قانون دی چی په ۱۷۸۷ کال کی وضع شوی او په ځینو تعدیلاتو سره تر نن ورځی پوری اعتبار لری.

دوهم لیکل شوی اساسي قانون د فرانسی اساسی قانون دی چی د امریکی د اساسی قانون څخه دوه کاله وروسته په ۱۷۸۹ کال کی وضع شوی دی.[۱]

لکه چې ومو لیدل اساسی قوانین په نوره نړی کی خورا اوږده سابقه لري خو زموږ په هیواد افغانستان کی اساسی قانون یوازی د هیواد د خپلواکی د بیرته اخستلو وروسته د لومړي ځل لپاره وضع شو. زموږ په هیواد کی د لومړی ځل لپاره په (۱۹۲۱) کال کی د افغانستان د اساسی تشکیلاتو نظامنامه تصویب شوه که څه هم چې نوموړی نظامنامه اساسی قانون نه و خو د اساسي قانون د ځینو خصوصیاتو او د اساسی تشکیلاتو په هکله یې د بنیادی حکمونو په لرلو د هیواد د خورا مهم اساسی تقنینی سند حیثیت لری.[۲] زموږ د گران هیواد

[۱] ښاغلی جعفری لنگرودی په خپل اثر د حقوقو په ترمینولوژی کی په ترتیب سره د انگلستان د اولسمی پیړی تعاملی اساسی قانون، د امریکی د متحده ایالاتو د ۱۷۸۷ کال اساسی قانون او د فرانسی د ۱۷۸۹ کال اساسي قانون د نړی لومړی، دویم او دریم اساسی قوانین گڼلی دی. خو څرنګه چی انگلستان لا تر اوسه لیکل شوی اساسی قانون نه لری او یو لړ تعاملی سندونه لری نو ځکه زه د امریکی ایالاتو اساسی قانون لومړنی او د فرانسې اساسي قانون دویم اساسی قانون گڼم.
[۲] د شوروی حقوق پوهانو حمیدوف او خلیفه بابا چی د افغانستان د اساسي قوانینو په هکله یې څیړنی کړی دی او په شاهی وخت کی د افغانستان د اساسي قوانینو تکامل په نامه یې یو کتاب لیکلی او همدارنگه د افغانی حقوق پوهانو د لیکنو له مخی د ۱۹۲۳ کال د افغانستان د عالیه دولت اساسی نظامنامه د لومړنی اساسی قانون په توگه پیژندل شوی ده خو د (Constitutions of Nations ) د مولف ( Amos J. Peaslee) په نظر چی د نړی د هیوادونو د اساسی قوانینو په هکله یې څیړنی کړی او په دری غټو ټوکونو کی چاپ شوی دی نوموړی نظامنامه د افغانستان دویم لیکل شوی اساسي قانون په توگه او برعکس د ۱۹۲۱ کال د اساسی تشکیلاتو نظامنامه د افغانستان د لومړی لیکل شوی اساسي قانون

اساسی قوانین په ترتیب سره په لاندنیو کلونو کې تصویب او نافذ شوی دی:

- ۱۹۲۳ د اپریل نولسمه: د افغانستان د عالیه دولت اساسی نظامنامه.
- ۱۹۳۱ د اکتوبر یودیرشمه: د افغانستان د دولت اساسی اصول.
- ۱۳۴۳ د میزان نهمه: د افغانستان اساسی قانون.
- ۱۳۵۵ د حوت پنځمه: د افغانستان جمهوری دولت اساسی قانون.
- ۱۳۵۹ د ثور لومړی: د افغانستان دموکراتیك جمهوریت اساسی اصول.
- ۱۳۶۶ د قوس نهمه: د افغانستان د جمهوریت اساسی قانون.

څرنگه چې د دی رسالی مقصد د نړی یا د افغا نستان د تیرو اساسي قوانینو څیړل نه دی نو پدی لنډی مقدمی به اکتفا وکړو او د افغانستان جمهوریت په نافذ اساسی قانون به لږ څه مفصل وغږیږو.*

د افغانستان دموکراتیك جمهوریت د اساسی اصولو د انفاذ په موده کې چې د ۱۳۵۹ کال د ثور په لومړی نیټه «د موقت اساسی قانون

په توگه پیژندل شوی ده. خو زه پخپله د افغانستان د اساسی تشکیلاتو نظامنامه د لومړنی موقت اساسي قانون په توګه ګڼم.

* موږ به نوموړی اساسی قوانین په جلا خپرونه کې تر څیړنی لاندی ونیسو.

په توګه» نافذ شو زموږ د هیواد په ملي او بین‌المللی ژوند کې ډېر ستر بدلونونه مینځ ته راغلل او د ملی روغی جوړې او پخلاینې د سیاست په ګډون د افغانستان د شاوخوا حالاتو د سیاسی حل په هکله د پاملرنې وړ پرمختګونه وشول.

له دی امله د افغانی ټولنی د راتلونکی ژوند د تنظیم او د یو داسی دولتی سیاسی نظام د جوړولو په مقصد چی په هغه کې زموږ د ټولو خلکو پراخه پرګنی او ډول ډول طبقي او قشرو نه برخه واخلي او د نویو را پیدا شوو بدلونونو او پرمختیاوته ځواب ووایی د افغانستان د نوي اساسي قانون د تدوین او نفاذ ضرورت احساس شو .

د اساسی قانون د تدوین موضوع د لومړي ځل له پاره د افغا نستان د خلك دموکراتیك ګوند د ۱۳٦٤ کال د عقرب د میاشتی په شپاړسم پلینوم او د افغانستان دموکراتیك جمهوریت د انقلابي شورا د ۱۳٦٤ کال د جدی میاشتی په فوق‌العاده غونډه کې طرحه شوه او انقلابي شورا خپل رئیسه هیئات ته وظیفه وسپارله چی د اساسي قانون د تسوید د کمیسیون غړی وټاکی.

د انقلابي شورا رئیسه هیات د نوموړی کال د حوت د میاشتی د دویمی نیټي په غونډه کی څلوراویا تنه د اساسی قانون د تسوید د کمیسیون د غړو په توګه وټاکل. د کمیسیون په ترکیب کی ټولنیزو او سیاسی شخصیتونو، قانون پوهانو، اقتصاد پوهانو، عالمانو، روحانیو نو او د هیواد د بیلابیلو طبقو، قشرو نو، قومونو او ملیتونو استازو او قبایلی ورونو مشرانو برخه درلوده.

د اساسي قانون د تسوید کمیسیون لومړنی غونډه د ۱۳٦٥ کال د

حمل په دریمه نیټه جوړه شوه او په همدې غونډه کې «د اساسي قانون د تسوید د کار کمیته» په لاندینی ترکیب سره وټاکل شوه.

رئیس: عبد الرحیم (هاتف)

مرستیال: اکادیمسین داکتر عبدالواحد (سرابی)

منشی: داکتر محمد سلیم (مجاز)

غړی:

پوهاند داکتر غلام سخي (مصئون)

قانونوال محمدیعقوب (کومك)

قانونوال محمداکرم (عبقری)

پوهنیار میر عبدالواحد (سادات)

پوهنیار ملیزی )طوطاخیل)

قانونپوه عبدالوهاب (صافي) .

د کار کمیټی په خپل کار پیل وکړ او لومړی غونډه یې د ۱۳٦٥ کال د ثور په میاشت کې جوړه کړه. پدی غونډه کی د کار کمیټی د کار د پلان او د اساسي قانون د تسوید د څرنګوالي او پالیسی‌ګانو په هکله مقدماتی خبری اتری وشوی او په وروستیو پرله پسي غونډو کی لاندینی مسألی په تصویب ورسیدلی:

- د کار د کمیټی کړنلاره
- د کار د کمیټی د غړو څخه اساسي قانون د تسوید د ګروپ ټاکل (د تسوید په ګروپ کی وهاب صافي، سلیم مجاز او ملیزی طوطاخیل غړیتوب درلود)

- د اساسي قانون د تسوید کمیسیون له غړو څخه د کار د کمیټې د مرستیالو گروپونو وټاکل.
- د نړۍ د بیلابیلو هیوادونو د اساسی قوانینو او بین‌المللی تقنینی سندونو د راټولولو او ژباړلو په گډون د ځینو نورو تدبیرونو نیول.

د اساسي قانون لمړی طرحه د منل شوی پلان سره سم د ۱۳۶۵ کال د سرطان د میاشتې په لومړیو ورځو کی بشپړ شوه او د اساسي قانون د کمیسیون دویمی غونډی ته چی د همدی کال د سرطان په دو یمه نیټه جوړه شوه د څیړنی او کتنی له پاره وړاندې شوه.

باید اوس دا خبره په ډاگه شی چی د کار کمیټې د خپل کار په اوږدی موده کی د اته ویشتو په شاوخواکی د اساسی قوانینو بیلا بیلی طر ح د اساسي قانون د تسوید کمیسیون ته وړاندی کړی چی د اساسي قانون د تسوید د کمیسیون له خوا په آزاده او دموکراتیکه فضا کی بحث پری وشو.

د اساسي قانون وروستنی طرحه د اساسي قانون د کمیسیون پنځمی عمومی غونډی ته د ۱۳۶۵ کال د سرطان په دیارلسمه نیټه وړاندي او د تسوید د کمیسیون له خوا ومنل شوه.

په نوموړی طرحه باندی د انقلابی شورا د رئیسه هیات له خوا د ۱۳۶۶ کال د سرطان په شلمه نیټه غور وشو او پریکړه یې وکړه چی د اساسی قانون طرحه دی عمومی نظر غوښتنو ته وړاندی شی.

د اساسي قانون په طرحه باندي نظر غوښتنی څلور میاشتی ونیولی.

د نوموړي مودی په ترح کی زموږ څه د پاسه دری ملیونو هیواد والو د اساسی قانون په طرحه باندی خبری وکړی او د اساسی قانون د طرحی په هکله یی د پنځلس زرو په شاو خوا کی پیشنهادونه وړاندی کړل چی دا پخپله د اساسي قانون د تدوین د ملي او دموکراتیک خصلت نمایندهگی کوی. د اساسی قانون د کار کمیټی او د تسوید کمیسیون زموږ د هیوادوالو په زړه پوري او د منلو وړ پیشنهادونه، انتقادات او نظریات په پام کې ونیول او د هغي په اساس د قانون په طرحه کی ژور او بنیادی تغییرات منځته راوستل.

د نظر غوښتنی په نتیجه کې د اساسي قانون په طرحه کی یو نوی فصل او د مادو شمیر د (۱۳۷) څخه (۱٤۸) مادو ته زیات شو. د نظر غوښتنی څخه وروسته نوی جوړه شوې طرحه د ۱۳۶۶ کال تاریخی لویی جرگی ته وړاندي او په لویه جرگه کې د نوموړی کال د قوس په نهمه نیټه په (۱۳) فصلونو او (۱۴۹) مادو کی د افغانستان جمهوریت د اساسي قانون په توگه تصویب شوه.

**د ا.ج. د اساسی قانون عمده ځانگړتیاوی او نوی سیاسی نظام**

د افغانستان جمهوریت اساسی قانون چی په تاریخی لویه جرگه کی د خلکو د استازو له خوا د یوې ملي او تاریخی وثیقی په توگه تصویب شو زموږ د معاصری نړی یو ډیر نوی اساسی قانون دی.

د کار کمیټی د اساسي قانون د تسوید په موده کی د بیلابیلو سوسیالیستی، پانگوالو، اسلامي او مخ په پراختیا هیوادونو حقوقی، سیاسی او اقتصادی سیستمونه او اساسی قوانین، د ملگرو ملتونو د سازمان منشور، د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه، د مدنی او

سیاسی حقوقو نړیوال میثاق، د ټولنیزو او اقتصادی حقوقو نړیوال میثاق او د داسی نورو بین‌المللی تقنینی اسناد تر کتنی او څیړنی لاندی ونیول او د اسلام د سپیڅلی دین د اساساتو، ملي غوره او په زړه پوری دودونو او د ټولنی د عیني شرایطو په نظر کې نیولو سره یې اساسي قانون تسوید کړ. نو ځکه زموږ نوی اساسي قانون د خپلی محتوی له امله د نړی د ډیرو شتمنو اساسی قوانینو څخه ګنل کیږی. د افغانستان جمهوریت اساسی قانون د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د اساسی اصولو (موقت اساسی قانون سره ډیر ژور تفاوت لری او بیخی نوی ټولنیز- اقتصادی او سیاسی نظام یې ایجاد کړی دی.

د نظر غوښتنی په نتیجه کی د دولت رسمی نوم (د افغانستان دموکراتیک جمهوریت) څخه (د افغانستان جمهوریت) په نامه واړول شو.

د اسلام د سپیڅلی دین ارزښت او هسک مقام په اساسی قانون کی تسجیل شو او د اساسی قانون په دوه یمه ماده کی په صراحت سره ویل شوی دی چی «د افغانستان دین د اسلام سپیڅلی دین دی.

د افغانستان په جمهوریت کی هیڅ قانون نشی کولای چی د اسلام د سپیڅلی دین د اساساتو او د دغه اساسي قانون د نورو مندرجو ارزښتونو مناقض وی.»

برسیره پر دې د اساسي قانون په دریم فصل کی چی د اتباعو اساسی حقوقو، آزادیو او مکلفیتونو ته تخصیص شوی دی په خلویښتمه ماده کی راغلی دی چی:

«د افغانستان په جمهوریت کې د ټولو مسلمانانو د پاره د دیني او مذهبی مناسکو د ترسره کولو آزادی تضمینیږی. ...»

د «ناپیپلتوب سیاست» که څه هم چې اصولاً د اساسی قانون د دولسم فصل (باندنی سیاست پوری اړه لری خو د هغه ژور باور او وفاداری له امله چی زمونږ خلك او دولت يې د ناپییلتوب سیاست ته لری. نوموړی سیاست د دولت د سیاسی نظام له اساساتو څخه گڼل شوی او د لومړی فصل په دویمه ماده کې تسجیل شوی دی چی:

«د افغانستان جمهوریت ناپییلی هیواد دی په پوځي ډلوټپلو کی نه شامليږي او په خپل قلمرو کی د بهرنیو پوځی اډو جوړيدو ته اجازه نه ورکوی.»

د اساسي قانون د دولسم فصل په يوسلو څلور دیرشمه ماده کی د ناپییلتوب په هکله یو ځل بیا ویل شوی دی چی:

«د افغانستان جمهوریت د ناپییلتوب سیاست د دولت د بهرنی سیاست د مهم اصل په توگه تعقیبوی او د ناپیپلتوب د غورځنگ د یوه بنسټ ایښودونکی په توگه د هغه هدفونو ته د رسیدلو په لاره کی هلی‌ځلی کوي.»

په اساسي قانون کی د هیواد «خپلواکی»، «تمامیت» او د «ملی حاکمیت» مسأله په ډیر صراحت سره حل شوی او په لومړی ماده کی یې راغلی دی چی:

«د افغانستان جمهوریت خپلواك، واحد او نه تجزیه کیدونکی

دولت او په خپل ټول قلمرو باندی د حاکمیت لرونکی دی.

د افغانستان په جمهوریت کی ملی حاکمیت په خلکو پوری اړه لری. خلك ملی حاکمیت د لویی جرگی، می شورا او سیمه ایزو د شوراگانو په واسطه تعمیلوی»

زمونږ د نوی سیاسی نظام یو بل عمده خصوصیت په هیواد کی د سیاسی پلورالیزم په بل عبارت د یوگوندی سیستم په ځای د ځوگوندی سیستم مینځته راوړل دی چی د افغانستان د خلك دموکراتیك گوند برسیره نوی سیاسی حزبونه او سازمانونه هم جوړیدلی شي او لکه چی گورو همدا اوس د قانون د حکمونو سره سم یو گڼ شمیر سیاسی گوندونه او سازمانونه جوړ شوی او په فعالیت یی پیل کړی دی.

دا خبره د یادولو وړ ده چی د افغانستان جمهوریت په اساسی قانون کی د افغانستان د خلك دموکراتیك گوند تعریف د افغانستان دموکراتیك جمهوریت په اساسی اصولو کی د تعریف سره پوره توپیر لری. پدی معنی چی د افغانستان د خلك دموکراتیك گوند په اساسی قانون کی افغانستان کی د ملي پخلاینی د تگلاری حامي او سازمان ورکوونکی پیژندل شوی دی.

که څه هم چې د دولت د سیاسی نظام اساسات د اساسی قانون په لومړی فصل کی درج شوی دی خو د دولت سیاسی نظام باید د اساسي قانون د ټولو فصلونو او محتویاتو د کتنی او څیړنی په نتیجه کی وپیژنو او یوازي په لومړی فصل اکتفا ونه شي.

د ټول اساسی قانون د مطالعې او څیړنی څخه به دی نتیجې ته ورسیږو چی د افغانستان جمهوریت دولت نوی سیاسی رژیم د پارلمانتاریزم او د دولت د دری گونو قواو د تفکیك بر اصول بناء شوی دی. په اساسی قانون کی که څه هم «د قواو د تفکیك» اصطلاح په څرگند ډول سره استعمال شوی نه ده خو د دولت، دری گونی (مقننه اجرائیه او قضایه) قواوي د هغه په ځانگړو فصلونو کې په داسی ډول تنظیم شوی دی چې د قواو تفکیك عملاً افاده کوی.

د اساسی قانون په شپږم فصل کی ملي شورا د افغانستان د جمهوریت تر ټولو لوړ تقنینی اورگان به توگه پیژندلی شوی ده چی د ولسی جرگی او سنا له دوه مجلسونو څخه جوړیږی، په داسی حال کی چی د ولسی جرگی و کیلان دا نتخاباتی حوزو له لاری د نفوسو د برابر شمیر پر اساس د یوی پنځه کلنی تقنیني دوری د پاره انتخابیږی. د سناد مجلس غړی (سنا توران) په لاندی توگه انتخاب او ټاکی کیږی:

١. له هر ولایت او د هغه له معادلو واحدونو څخه دوه تنه د پنځو کلونو د پاره.
٢. له هر ولایت او د هغه د معادل د شورا د غړیو له جملی څخه دوه تنه د دریو کلونو د پاره د مربوطي شورا په انتخاب.
٣. پاتي دریمه برخه د خبیرو، پوهو او باوری افرادو او ملي شخصیتونو له ډلی څخه څلور کلونو د پاره د جمهور

رئیس له خوا تټا کل کیږی.

په داسی حال کی چی د ملي شورا واکونه د اساسي قانون په یوه اتیایمه ماده کی څرگند شوی دی، ولسیجرگه دغه اختصاصی واکونه لري:

١. د وزیرانو شورا او یا دهغي یوه غړی ته د باور د راپی د ورکړی او یا د باور د سلب په باب د تصمیم نیول.
٢. د ولسي جرگی او سنا ترمنځ د نظر د اختلا ف په صورت کی د اقتصادی - ټولنیزي پر مختیا د پلانونو او د دولتی بودجي د طرحی په باب د وروستی پریکړی کول. همدارنگه د ولسی جرگی غړی حق لری چی د استیضاح په غونډه کی صدراعظم او یا د حکومت هر یو غړی تر استیضاح لاندی ونیسی. د استیضاح ځواب په لیکلی یا شفاهی توگه وړاندی کیږی.

ولسیجرگه کولای شی چی د ورکړل شوی ځواب له مخی له حکومت څخه د باور د سلب موضوع وڅیړی او که چیری حکومت د باور د سلب سره مخامخ شی د وزیرانو د نوی شورا تر جوړیدو پوری خپلو دندو ته دوام ورکوی.

که په اساسي قانون کی له یوی خوا د قانون جوړولو واک د ملي شورا په انحصار کی دی خو له بلی خوا ډیر زیات مقامات (جمهور رئیس، د ملي شورا د دواړو مجلسونو دایمی کمیسیونونه، د هر مجلس لږ تر لږه لسمه برخه، د وزیرانو شورا، ستره محکمه، لویه څارنوالی، د ملی جبهی اجرائیه هیئت او د عالمانو او روحانیونو

شورا) د ملي شورا هر یوه مجلس ته د قانون د وضع کولو، تعدیلولو او لغوه کولو د پیشنهاد حق لری چی د تقنینی پیشنهادونو په برخه کی د مقاماتو داسي زیاتوالی او پراختیا زمونږ د هیواد په حقوقی سیستم کی د دموکراسی یوه نوی نښه ده چی زمونږ د هیواد په پخوانیو حقوقی سیستمونو کی ساری نه لری.

د اساسي قانون په اووم فصل کی د وزیرانو شورا (حکومت) د افغانستان جمهو ریت د دولتی قدرت تر ټولو لوړ اجرائیوی او اداری اورګان ګڼل شوی دی چي د صدراعظم، د صدراعظم له مرستیالانو، وزیرا نو او د وزارت دمعادلو مرکزی اورګانونو له رئیسانو څخه جوړه ده. د اساسی قانون د حکمونو سره سم د حکومت په جوړولو باندی موظف صدراعظم د جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږی او موظف صدراعظم د تقنینیه دوری په لومړنی اجلاس کی د کورنی او بهرنی سیاست تګلاری او د حکومت ترکیب د باور د رایی د اخیستلو په مقصد ولسي جرګی ته وړاندی او معرفي کوي او وروسته له هغی چی د ولسی جرګی له خوا یی د با ور رایه لاس ته راوړه، د جمهور رئیس له خوا د حکومت د رئیس او غړو منظوری ورکول کیږی.

د وزیرانو د شورا واکونه چی عمدتاً اجرائیوی بڼه لری د اساسی قانون په یو سلو دریمه ماده کی تسجیل شوی دی. په داسی حال کی چی ملی شورا د مقننه قوی او د وزرانو شورا د اجرا ئیه قوی په حیث پیژندل شوی ده خو د اساسي قانون د یوسلو څلورمی مادی د حکم سره سم د ملي شورا د تعطیل او یا د ولسی جرګی د ړنګیدو په وخت کی د وزیرانو شورا د عاجلی اړ تیا په صورت کی کولای شی چی په

بودجې او مالي چارو پورې له مربوطو مسألو پرته د ملي شورا په واک کې د شاملو مسألو په باب تقنيني فرمانونه وضع کړي.

تقنيني فرمانونه د جمهور رئيس له توشيح نه وروسته نافذ ګڼل کيږي. د وزيرانو شورا هغه تقنيني فرمانونه چې د اساسي قانون د دغه حکم سره سم وضع شوي دي، د ملي شورا لومړني اجلاس ته د منظورۍ په غرض وړاندې کوي. که چيرې تقنيني فرمانونه د ملي شورا له خوا رد شي، د ملي شورا د تصميم له نيټې څخه له اعتباره لويږي.

د اساسي قانون د يوسلو پنځمې مادې سره سم د وزيرانو شورا د واک دوره د تقنينيه دورې په پای ته رسيدو سره پای ته رسيږي او هغه حکومت چې د واک دوره يې پای ته رسيدلې ده د وزيرانو د نوی شورا تر جوړيدو پورې خپلې دندي سرته رسوي.

د دولت د درې ګونو قواو تفکيك په تيره بياد قضائيه قوې په هکله د افغانستان جمهوريت د اساسی قانون په يو سلو اوومه ماده کې په ډير وضاحت سره تجسم موندلی دی، ځکه نوموړې ماده حکم کوي چې **«قضا د دولت يوخپلواك رکن دی»**

د افغانستان جمهوريت د اساسی قانون له مخي قضايي نظام په لاندنيو بنسټونو بنا شوی دی:

١. قضاوت يوازې د محکمې له خوا د قانون د حکمونو سره سم کيږي.
٢. ستره محکمه د تر ټولو لوړ قضايي اورګان په توګه د هيواد

د واحد قضایي سیستم په سر کې ده، د محکمو فعالیتونه څارې او د محکمو په فعالیتونو کې د قانون یوشان تطبیق تامینوی.

۳. محکمی په قضاوت کی یوازی د قانون تابع دی. په هغه حالاتو کی چی قانون صراحت ونه‌لری، محکمه قضیی د اسلام د شریعت د حکمونو له مخی په داسی توگه حل او فصل کوی چی عدالت په ډیره ښه ممکنه وجه تامین کړی.

٤. محاکمه په علنی توگه کیږی، مگر دا چی قانون په سری توگه حکم کړی وی. د افغانستان جمهوریت د اساسی قانون د یوسلو شپاړسمی مادی د حکم سره سم د محکمو تشکیل، ترکیب، واک او د فعالیت څرنگوالي د قانون په واسطه تنظیمیږی.

په اساسي قانون کی د دولت په مقننه، اجرائیه او قضائیه دری گونو قواو برسیره د افغانستان جمهوریت لویی څارنوالي ته د یوی (څلورمی - نظارتی قوی) په حیث ځای ورکړ شوی دی.

د اساسي قانون د نظم له مخی د څارنوالي عمده ځانگړتیاوي په لاندي توگه خلاصه کولای شو:

۱. **خپلواکی:**

د څارنوالی اداره اوس د اساسي قانون د حکمونو له مخی د اجرائیه قوی جز نه دی بلکه د دولت د دری گونو قواو تر څنگه د یوی څلورمی قوی په توگه په مستقل ډول

فعالیت کوي او په څارنوالی پوری اړوندی چاری د اساسي قانون په نهم فصل کی په ځانګړی توګه تنظیم شوی دی. لوی څارنوال جمهور رئیس ته مسوول او د راپور په ورکولو مکلف دی. همدا رنګه د اساسي قانون د یوسلو اتلسمی مادی د حکم سره سم د څارنوالی اورګانونه په خپلو اجراآتو کی خپلواک او یوازی د قانون او لوی څارنوال تابع دی.

۲. **وحدت او مرکزیت**

د اساسي قانون د یوسلو اووه لسمی مادی د حکم سره سم د افغانستان جمهوریت څارنوالی د مرکزیت د اصل پر بنسټ واحد سیستم دی چی د نوموړی اصلی له مخی به وروسته له دی نه د ملي امنیت اختصاصی څارنوالی او د وسله‌والو قواو څارنوالی د افغانستان جمهوریت د لوی څارنوالي په مرکزی واحد سیستم کی فعالیت کوي.

۳. **د قوانینو پر یوشان تطبیق او رعایت باندی لوړه**

٤. **څارنه:**

د جرمونو د مخنیوی او د هغو پر ضد د مبارزې په بهیر کی د څارنوالي دنده یوازی د جرمونو په تحقیق او جزایی تعقیب پوری محدوده نه پاتی کیږی. بلکه د اساسی قانون د یو سلو شلمی مادی د حکم سره سم د ټولو وزارتونو او د دولتي اداری د نورو مرکزی اورګانونو د سیمه ییزو شوراګانو، د اجرائیوي کمیټو، د دولتی، مختلطو او خصوصی موسسو، ادارو، او کوپراتیفونو، سیاسی ګوندونو او ټولنیزو سازمانونو، د چارو د مسوولینو او

اتباعو له خوا د قوانینو پر یو شان تطبیق او رعایت باندي لوړه څارنه د لوی څارنوالي او د هغه ترلاس لاندی څارنوالانو په غاړه ده.

۵. **ساحوی اصل:**

د افغانستان جمهوریت د اساسي قانون د یوسلو اووه لسمی مادی د حکم سره سم د څارنوالی اورگانونه د ساحوی اصل په نظر کې نیولو سره د دولتی قدرت د ټولو مرکزی او محلی اداری واحدونو په سطحه کی ایجاد شوی دی.

٦. **موضوعی اصل:**

د پورتنی مادی د دویمی فقری د حکم سره سم دولت کولای شی چی د مشخصو او ځانگړو قضایاو د څیړلو په مقصد د څارنوالي په واحد سیستم کی اختصاصی څارنوالی جوړی کړی.

## دویمه برخه

## د اساسی قانون علویت او د اساسی قانون سره د قوانینو سمون

د افغانستان جمهوریت په اساسي قانون کې د حقوقو او د قانون د تنظیم د ساتنې داسې نوې موسسې او اورګانونه را منځ ته شوی دی چې نه یوازې زموږ د هیواد په پخوانیو اساسی قوانینو بلکې د نړۍ د ځینو نورو هیوادونو په اساسي قوانینو کې هم نه شته. له دغه اورګانونو څخه یو «د اساسی قانون شورا» ده چې د تر ټولو لوړ تقنینی سند په توګه د اساسی قانون سره د عادی قوانینو دسمون لرلو د څارنې په مقصد جوړه شوی ده.

د اساسي قانون علویت او د اساسی قانون سره د عادی قوانینو د سمون اصل د اروپا د اوه‌لسمی او اتلسمی پیړۍ د طبیعی حقوقو د فلاسفه و له عقیدو څخه سرچینه اخلی. د دغو فلاسفه‌و په عقیده دولت د ټولنیز تړون زیږنده او اساسی قانون د دغه تړون تبلور او تجسم دی. ځکه انسانانو په «طبیعی حالت» کې دولت نه درلود او دولت په حقیقت کې د ټولنیز تړون (اساسي قانون) په نتیجه کې را مینځ ته شوی دی. اساسي قانون د دولتی قدرت جوړوی او د دغو (مقننه، قضائیه او اجرائیه) اورګانونو د واک حدود او د فعالیت بڼه ټاکی.

له هغه ځایه چې د دولتي قدرت اورګانونه د اساسي قانون زیږنده دي، نو مکلفیت لري چې له یوې خوا په خپلو اجراتو کې اساسي قانون د دولت د تر ټولو لوړې قاعدې (قاعدو) په توګه رعایت کړي او له بلې خوا هغه قوانین چې د دولتي قدرت د اعمال په مقصد یې وضع کوي، د اساسي قانون د حکمونو سره سمون ولري.

له هغه ځایه چې د دې لیکنې هدف د اساسي قانون د علویت څیړل دي، نو موږ د طبیعي حقوقو د فلاسفه و پر دغه عقیده چې دولت د ټولنیز تړون (اساسي قانون) محصول دی، مناقشه نه کوو.

له پورتنې لنډې څرګندونې څخه دغه دوه نتیجې لاس ته راځي:

1. **د اساسي قانون علویت:**
   اساسي قانون د دولت تر ټولو لوړه قاعده ده او د دولت اورګانونه مکلف دي چې د دولتي قدرت په اعمال کې د اساسي قانون حکمونه په نظر کې ونیسي.
2. **د اساسي قانون سره د قوانینو سمون:**
   دولت مکلف دی چې عادي قوانین د اساسي قانون سره په سمون کې وضع کړي.

پورته یادشوي اصول د افغانستان د جمهوریت په اساسي قانون کې په لاندې توګه تسجیل شوي دي:

«د افغانستان د جمهوریت اساسي قانون د تر ټولو لوي حقوقي اعتبار لرونکی دی. قوانین او نور تقنیني اسناد د هغه سره سم وضع کیږي». (دا.ج. د اساسي قانون ۱۳۹ ماده) . «هغه قوانین او نور

تقنيني اسناد چې د دغه اساسی قانون له انفاذ څخه پخوا صادر شوی دی په دی شرط نافذ ګڼل کیږی چی د دغه اساسي قانون د حکمونو متناقض نه وي». (دا.ج. د اساسي قانون ۱۴۸ ماده) . همدغه راز د افغانستان د جمهوریت د اساسی قانون د (۱۴۰) مادی د حکم له مخی «دولت او د هغه ټول اورګانونه د اساسي قانون ... سره سم» فعالیت کوی.

د اساسي قانون د علویت د تحقق د پاره یوازی نظری تاکید کافي نه دی بلکی د حمایوی عملی تدبیرونو غوښتونکی دی تر څو دولت او یا په څرګند عبارت مقننه قوه و نه کړای شي چی د عادی قوانینو په څیر د هغه سره چلند وکړی. یعنی مقننه قوه ونه کړی شی چی لغوه کړی او یا د اساسی قوانینو په څیر تعدیل او یا لغوه کړی او یا د اساسی قانون مخالف عادی قوانین وضع کړی.

په دغه ارتباط چی د دولت (مقننه قوی) په وړاندی اساسی قانون حمایه شی او که نه، اساسی قوانین په دوو ډولونو (جامد اساسي قانون او غیرجامد اساسي قانون) با ندي ویشی.

– **الف جامد اساسی قانون:**

هماغسی چی پخوامو څرګنده کړه اساسی قانون د عادي قانون جوړوونکی په وړاندی د حمایت غوښتونکی دی چی دغه اصل د اساسي قانون له انجماد څخه پرته امکان پذیر نه دی. د اساسی قانون جمود په دی معنی دی چی قانون جوړوونکی و نه شی کړی د اساسي قانون سره د عادي قوانینو په څیر چلند وکړی او هغه د عادی قوانینو د کړنلاری له مخي تعدیل کاندی.

د «جامد» اصطلاح له دی امله په کار وړل کیږی چی اساسی قانون په دغه حالت کی انعطاف منونکی نه بلکی د مقننه قوی په وړاندی د ثبات او مقاومت د خصلت لرونکی دی. له جامد اساسی قانون څخه هدف دا دی چی اساسی قانون د یوه ملت او ټولني د ارادی د تر ټولو لوړ ښکارندوی په توګه د رهبرانو او د دولتی قدرت د اورګانونو د تمایلاتو تا بع نه شي او زیات ثبات او مداومت و لری.

د اساسی قانون له جمودی خصلت څخه باید داسی استنباط و نه شی چی دغه راز اساسی قانون په هیڅ صورت د تعدیل او یا لغوه کولو وړ نه دی. بلکی جامد اساسي قانون په دی معنی دی چی د دغه قانون تعدیل او الغاء هم د کړنلاری له پلوه او هم د واك لرونکی مقام له پلوه د عادی قانون سره توپیر لری. د جامد اساسی قانون عمده ځانګړتیاوی په لاندی توګه فرمولبندی کولای شو:

١. جامد اساسي قانون د غیرجامد اساسي قانون او یا عادی قانون پرخلاف د مقننه قوی له خوا تعدیلیدلي او یا لغوه کیدلی نه شی.
٢. جامد اساسي قانون باید د یوه خاص مقام له خوا تصویب شي، نه د عادی قانون جوړوونکی په واسطه.
٣. د جامد اساسي قانون د تصویب، تعدیل او یا لغوه کولو کړنلاره د غیرجامد یا عادی اساسی قانون په نسبت توپیر لري او نسبتاً پیچلی ده.

د جامد اساسی قانون یو ساری د فرانسی د پنځم جمهوریت (د ۱۹۵۸ کال د اکتوبر څلورمی نیټی) اساسي قانون دی. د دغه

اساسی قانون له مخې پارلمان له اسامبلی او سنا څخه جوړ او د عادی قوانینو او ارګانیك قوانینو د تصویب او تعدیل واك لری. البته د هغو قوانینو د تصویب د پاره چی په اساسی قانون کی د ارګانیك قوانینو په توګه پیژندل شوی دی، د عادی قوانینو په نسبت ځانګړی کړنلاره په اساسی قانون کی اټکل شوی ده. لاکن د فرانسی پارلمان د اساسی قانون د تعدیل او لغوه کولو واك نه لری او د فرانسی د اساسی قانون د (۸۹) یمی مادی د حکم له مخې اساسي قانون د جمهور رئیس، صدراعظم او پارلمان په پیشنهاد تعدیلیدلای شی.

دغه پیشنهاد باید د پارلمان د دواړو مجلسونو له تصویب څخه وروسته ریفراندم ته وړاندې شي او د ملت له مستقیم تائید څخه وروسته د قانونی اعتبار وړ دی. که چیری د تعدیل پیشنهاد د پارلمان د دواړو مجلسونو له خوا تصویب نه شی، ریفراندم ته نه وړاندی کیږی.

خو زما په نظر د هغو ځانګړتیاو په پام کی نیولو سره چي پورته څرګندی شوی، د جامد اساسی قانون خورا ښه او تر ټولو بشپړه بیلګه د افغانستان د جمهوریت اساسی قانون دی، ځکه چي ملي شورا (پارلمان د افغانستان د جمهوریت د اساسي قانون د (۷۷) یمي مادی د حکم سره سم د هیواد تر ټولو لوړ تقنینی اورګان دی او د اساسی قانون د (۸۰) یمی مادی د لومړنی فقری د حکم له مخی د قوانینو او تقنیني فرمانونو د تصویب، تعدیل او لغوه کولو واک لري. اما ملي شورا د عادی قانون جوړوونکي په توګه د اساسی قانون په

هکله هيڅ ډول واک نه لري او هان چی د اساسی قانون د تفسیر واک هم دغه اورګان ته ورکړ شوی نه دی. د افغانستان په جمهوریت کی د اساسی قانون د تصویب او تعدیل والی یوه خاص مقام (لويی جرګی) ته چی د ملي او تاريخي دودونو له مخی د افغانستان د خلکو د ارادي تر ټولو لوړه ښکارندویه ده، ورکړ شوی دی (دا.ج. د اساسی قانون ٦٥ - ٦٦ مواد) .

د افغانستان د جمهوریت د اساسي قانون د تصویب او تعدیل کړنلاره هم د عادی قوانینو د کړنلاری سره توپیر لري او نسبتاً پیچلی ده. ځکه په داسی حال کی چی عادی قوانین د ملي شورا د غړیو د رایو په اکثریت تصویب او تعدیلیږی، د اساسي قانون تعدیل په مستیقمه توګه د لویي جرګی له خوا کیږی. همدغه راز د اساسي قانون د تعدیل په باب تصمیم د جمهور رئیس په پیشنهاد او یا د ملي شورا د غړیو د یوی دریمی برخی په پیشنهاد او د دوو دریمو برخو په تائید هم نیول کیږي. په دغه حالت کی جمهور رئیس لویه جرګه جوړوی. که چیری لویه جرګه د تعدیل پیشنهاد ومنی، اساسی قانون تعدیلوی او که نه نو د تعدیل پیشنهاد ردوی.

د اضطرار په حالت کی د اساسي قانون تعدیل جواز نلری (د افغانستان د جمهوریت د اساسی قانون ۱۰۱ ماده ) .

دلته په څرګند ډول لیدل کیږی چی د افغانستان د جمهوریت د اساسي قانون د تعدیل کرنلاره د عادي قوانینو سره بنستیز توپیر لري او د جامد اساسي قانون په توګه د دولتی قدرت اورګانونو په وړاندی د بشپړ مصوونیت او حمایت څخه برخمن دی.

### – ب غیرجامد اساسي قانون:

په هغو سیستمونو کې چې د دولت په وړاندې د اساسی قانون د علویت په باب حمایوی تدبیرونه نیول شوی نه دی، اساسی قانون غیرجامد او دغه ډول اساسی قوانین په اصطلاح «انعطاف منونکی او ملایم» بلل کیږی. دغه اصطلاح ځکه په کار وړل کیږی چې اساسی قانون د مقننه قوی په وړاندی انعطاف منونکی دی او مقاومت نه لری. په دی معنی چې قانون جوړوونکی کولی شي اساسی قانون د عادی قوانینو کړنلاری له مخې تعدیل او لغوه کاندی. څرنګه چې په دغه راز سیستمونو کې د اساسی قانون د تعدیل او لغوه کولو کړنلاره د عادی قوانینو سره توپیر نه لری، نو ځکه د اساسي قانون اوچتوالی د تر ټولو لوړی قاعدی په توګه هم مطرح نه دی.

د غیرجامد اساسی قانون عنعنوی ساری د انګلستان اساسی قانون دی، ځکه په دغه هیواد کې د قانون جوړوونکی (پارلمان) په وړاندی د اساسي قانون د حمایې په مقصد هیڅ ډول تدابیر نه شته او پارلمان کولای شی چې د اساسي قانون دساتیر د عادی قوانینو په څیر په آسانی سره تعدیل او لغوه کړی. نو ځکه یو معروف متل دی چې «د انګلیس پارلمان د هر عمل د سرته رسولو وس لری مګر دا چې له یو نر څخه ښځه جوړه کړی».

باید یادونه وکړو چې انګلستان لیکلی او مدون اساسی قانون نه لري بلکې په دغه هیواد کې یو لړ عرفی دساتیر او اساسي قواعد شته چې

د اساسي قانون په توګه پر هغو عمل کيږی او مونږ دغه دساتير او اساسي قواعدد انګليس د اساسي قانون په توګه يادوو.

د فرانسې د (۱۸۱۴) او (۱۸۳۰) اساسی قوا نين هم کيدای شی چی د غيرجامد اساسي قوانينو له ډلی څخه و ګڼل شی. ځکه چی د دغو اساسي قوانينو تعديل هم د پاچا او داستازو او اعيانو ددواړو مجلسونو د ګډ واك له جملی څخه ګڼل کيده.

د غيرجامد اساسي قانون بل ساری د ایټاليا د (۱۸۴۸) کال اساسي قانون دی چی قانون جوړوو نکی مجلس د عادی قوانينو په څير د هغه د تعديل واک هم درلود. هماغسی چی د فاشيستی رژيم د (۱۹۳۸) کال تعديل چی د دغه هيواد داستازو مجلس د هغه په اثر ړنګ شو، د عادی قانون په توګه تر سره شو.

**د اساسی قانون سره د قوانينو سمون:**

له هغه ځايه چی اساسی قانون د دولت تر ټولو لوړ حقوقی سند دی نو دغه علويت په عين حال کی د دی غوښتونکی دی چی قوانين او د دولت نور تقنينی استاد د اساسي قانون د حکمونو سره سمون ولری. ځکه که چيری د عادی قوانينو حکمونه د اساسی قانون سره مغايرت ولری دا په دی معنی ده چی عادی قانون جوړوونکی د اساسي قانون د حکمونو د تعديل او لغوه کولو واک لری.

لکه چې پخوا مو څرګنده کړه د اساسی قانون د علويت د پاره يوازی نظری تائيد بس نه دی بلکی حمايت او عملی تضمين غواړی. د اساسي قانون د علويت د تضمين يوه وسيله د اساسی قانون سره د

قوانینو او نورو تقنینی اسنادود حکمونو دسمون څارنه ده، تر څو قانون جوړوونکی ونه شي کړای چې د اساسی قانون مخالف او مناقض قوانین وضع کړي او که چیرې د اساسی قانون د حکمونو مخالف قانون وضع شی هغه ملغي او یا تعلیق کړی. اوس دغه پوښتنه رامنځ ته کیږي چې څه ډول اورګان باید د اساسي قانون سره د دی قوانینو د سمون څارنه وکړي؟ په ځواب کې باید وویل شي چې په هر صورت دغه اورګان باید د عادی قانون جوړوونکی د واکونو له حوزی څخه بهر وی. ځکه چې قانون جوړوونکی مقام معمولاً د هغو قوانینو د تبدیل او الغاء په وړاندی چې پخپله ئې وضعوی، مقاومت کوی.

د اساسی قانون سره د قوانینو د سمون څارنه په حقیقت کی د اساسي قانون او عادی قوانینو د تفسیر متضمن ده تر څو دهغی په نتیجه کی د اساسی قانون سره د مخالفت قانون د حکمونو پر بطلان حکم وشي، نو ځکه دغه واك باید یوه قضائی اورګان او یا کوم بل حقوقی متخصص اورګان ته وسپارل شی چې په نتیجه کی د اساسی قانون سره د عادی قوانینو د سمون د قضایی څارنی او غیرقضائی څارنی موضوع رامنځ ته کیږی:

قضائی څارنه د عادی قوانینو له انفاذ څخه وروسته تر سره کیږي او که چیرې قانون او یا د هغه ځینی حکمونه د اساسی قانون سره مخالف وی، محکمه د هغو په الغاء او یا تعلیق حکم کوی.

غیرقضائي څارنه اصولاً د اساسی قانون له انفاذ څخه پخوا تر سره کیږی. په دغه شان سیستم کی د قانون پروژه له هغه وروسته چې

د مقننه قوی په واسطه تصویبیږی، پخوا له هغه چی د دولت د رئیس له خوا نافذ شی، اړوند اورګان ته استول کیږي تر څو د اساسی قانون سره د هغه سمون وڅیړی. که چیری د قانون حکمونه د اساسی قانون سره سمون ولري د دولت رئیس هغه توشیح او نافذوی او له هغه پرته د قانون له تنفیذ څخه ډډه کوی او هغه قانون جوړوونکی ته ور مسترد وی تر څو پر پروژه با ندی د اساسي قانون سره په سمون کی نوی کتنه وکړی. نو له دی امله ویلای شو چی قضائی څارنه، معالجوي او غیرقضائي څارنه وقایوی څارنه ده. په بل عبارت قضائی څارنه وروستنی کنترول او غیرقضائی څارنه ړومبنی کنترول دی. البته دغه اصول ثابت نه دی او خلاف یې هم شته چې په راتلونکو برخو کی په حقوقي او سیاسی بیلابیلو نظامونو کی ددواړو څان نو د ډولونو ساری څرګندوو.

## دریمه برخه

### قضايي څارنه او د اساسی قانون محکمی

د اساسی قانون سره د قوانینو د سمون قضائی څارنه هماغه شان چی پخوا څرگنده شوه د محکمی له خوا تر سره کیږی. په دغه حالت کی محکمه هغه قانون چی د اساسی قانون سره یی د مغایرت ادعا شوی ده، څیړی او په هغه صورت کی چی د محکمی په وړاندی د اساسی قانون سره د هغه نه سمون ثابت شو پر لغوه کولویی حکم کوی. خو له دی امله چی د داسی قانون د لغوه کولو حکم چی د مقننه قوی له خوا تصویب شوی او د دولت د رئیس په واسطه منظور شوی وی، یوه ډیره جدی او مهمه موضوع ده نو د دغه راز قضیو د څیړنی واک هری عادی محکمی ته نه بلکی د هیواد تر ټولو لوړ قضائی اورگان ته ورسپارل کیږی. مثلاً په سویس کی د اساسی قانون سره د عادی قوانینو د سمون د څیړنی واک فدرال محکمی ته چی د هغه هیواد تر ټولو لوړ قضائی اورگان دی، ورسپارل شوی دی (دسویس د فدرال اساسی قانون ۱۱۳ ماده ) .

د فدرال محکمه په دغه ارتباط یوازی هغه قضیی څیړی چی د فدرال اساسی قانون او یا د کانتون (ایالت) د اساسی قانون سره د ولایتونو د قوانینو پر مغایرت ادعا شوی وی. ټول اتباع حق لری چی د نفاذ له نیټی څخه د (٦٠) ورځو په ترڅ کي د اساسی قانون سره د هغه

قانون د نه سمون په باب چې د هغوی حقوق تر پښو لاندی کوی او یايې قانونی گټی تهدیدوی، په محکمه کی دعوا و کړی.

په ځینو هیوادونو کی د اساسی قانون سره د قوانینو د څیړنی په مقصد د اساسی قانون د محکمی په نامه اختصاصی محکمی جوړی شوی دی. دغه ډول محکمی د لومړی نړیوا لی جگړی څخه وروسته په اروپاکی را منځ ته شوی او نن ورځ د نړی په بیلابیلو هیوادونو کی تاسیس شوی دی چی مونږ یې د نړی په مختلفو هیوادونو کی تر څیړني لاندی نیسو:

## آلمان

د جرمني امپرا طوری چی په (۱۸۷۱) کال کی جوړه شوی وه، د لمړی نړیوالی جگړی په پای کې په جمهوریت بدله شوه او د (۱۹۱۹) کال د اگست په یوولسمی نیټی د وایمار (Weimar) د جمهوریت اساسی قانون تصویب شو. نوموړی اساسی قانون د (۱۹۳۳) کال پوری چی ادولف هیتلر قدرت تر لاسه کړ، اعتبار درلود.

د دویمی نړیوا لی جگړی وروسته چی المان په دوه برخو وویشل شو، د لویدیزی برخی لپاره چې د امریکا، انگلستان او فرانسی تر اشغال لاندی وه، د (۱۹۴۸) او (۱۹۴۹) کلونو په ترځ کې د اساسي قانون یوه طرحه جوړه شوه. نوموړی طرحه د (۱۹۴۹) کال د مې په اتمه د پارلمانی شورا له خوا تائید او د (۱۹۴۹) کال د می په درویشتمه نیټه په فدرالی رسمی بریده کی (د المان فدرالی جمهوریت) د اساسی قانون په حیث خپره او اعلام شوه، نوموړی قانون د اساسی قانون (Constitution) په نامه نه، بلکی د المان فدرالی جمهوریت د اساسی اصول

( Basic Law for the federal Republic of Germany)

یا موقتی اساسی قانون په نامه یاد شوی او په وروستنی یعنی یو سلو شپږ څلویښتمه ماده کی یی تسجیل شوی دی چی: «دغه اساسی

اصول به تر هغې ورځې پورې اعتبار ولري چې د جرمني خلك د آزاد تصمیم نه مخې خپل راتلونکی اساسی قانون تصویب او نافذ کړي.»

د نوموړي اساسي قانون له مخې چې «د بن Bonn د اساسی قانون» په نامه یادیږي د دولتی سیستم او عامه قواو تشکیلات په لاندې توگه تنظیم شوي دي:

**مقننه قوه:**

د فدرالی المان پارلمان په دوه خونه ایز (Bicameralism) سیستم له دوه مجلسونو څخه جوړ شوي چې یو یې د بوندستاك (Bundestag) ښکتنی مجلس او بل یې د بوند سرات (Bundestrat) یعنې پورتنی مجلس په نامه یادیږي.

د بوند ستاک استازي د فدرالی جمهوریت د اتباعو له خوا د مساوی، آزادو، مستقیمو او مخفی رایو په اساس د څلورو کلونو لپاره انتخابیږي.

د بوند سرات غړي د ایالتی حکومتونو له خوا د هر ایالت (laender) څخه له د یو نه تر پنځو غړیو پورې د نفوسو په تناسب ټاکل کیږي.

**اجرائیه قوه:**

اجرائیه قوه د فدرالی جمهور رئیس په واک کې ده چې د فدرالی کنوانسیون یعنې د ښکتنی مجلس استازو او په عین شمیر سره د ایالتي پارلمانی مجلسونو د منتخبو غړیو له خوا د (۵) کلنی دورې

لپاره انتخابیږی او یوائې د یو ځل لپاره په راتلونکی متصله دوره کی بیا انتخابیدلی شی.

فدرالي حکومت د فدرالی صدر اعظم (Chancellor) او فدرالی وزیرانو څخه متشکل دی. فدرالی صدرا عظم د فدرالي جمهور رئیس په پیشنهاد د بوندستاك له خوا ټاکل کیږی. د فدرالي حکو مت وزیران د صدراعظم په پیشنهاد د جمهوررئیس له خوا ټاکل کیږی او له دندې څخه گوښه کړی.

**د عدالت اداره:**

د المان په فدرال جمهوریت کی قضاوت د قاضیانو په واسطه کیږی او قاضیان په خپل قضاوت کی آزاد او یوائې د قانون تا بع دی. قضائی واکونه د فدرالی اساسی قانون د محکمی، د فدرالی ستری محکمي او فدرالی اوایالتی محکمو په واسطه تعمیلیږی.

**د اساسي قانون محکمه:**

د فدرالی المان په اساسی اصولو کی د اساسی قانون سره د قوانینو د حکمونو د سمون د څیړنی په مقصد د اساسی قانون د محکمی تاسیس په نظر کې نیول شوی دی.

د فدرالي اساسي قانون شورا (۲۶) تنه غړی لری چی نیمایی یی د بوندستاك او نیمایی نور یی د بوندسرات له خوا ټاکل کیږی.

د اساسی فدرالي قانون د محکمی قاضیان باید لږ تر لږه د څلویښتو کلونو عمر، د بوندستاک د غړیتوب او د قضاوت اهلیت ولری. د نوموړی محکمی قاضیان په بوندستاك او بوندسرات کی باید

غړیتوب ونه لري او که چیری په نومړو مجلسونو کی غړیتوب تر لاسه کړی او یا په مرکزی یا ایالتی دندو وگمارل شي، نو پدی صورت کی د اساسی قانون د محکمی غړیتوب د لاسه ور کوی.

د المان په فدرالی جمهوریت کی د اساسی قانون محکمه ډیر ستر او پراخه واکونه لری چی دهغی پریکړی په ټولو دولتی اورگانونو، جمهور رئیس فدرالی او ایالتی حکومتونو، د فدرالی او ایالتی دولت په تقنینیه جرگو او همدارنگه د اساسی قانون د حکمونو سره د مخالفت په صورت کی په ټولو اتباعو باندی تطبیق کیږی. د اساسي قانون د محکمی واکونه په لاندی ډول خلاصه کولای شو:

١. د اساسی قانون تفسیر.
٢. د اساسی قانون سره د فدرال د قوانینو او یا د ایالتونو د قوانینو د مغایرت څخه د راپیدا شویو قضیو څیړل.
٣. د فدراسیون او ایالتونو د حقوقو او دندو په باب د نظر د اختلاف څخه د راپیداشویو قضیو څیړل.
٤. له اساسي قانون څخه د سرغړونی په صورت کی د سیاسی گوندونو ړنگول.
٥. له اساسی قانون څخه د سرغړوني په صورت کی د مقرراتو سره سم د دولتي مقامونو او اتباعو په هکله د پریکړی صادرول.

د اساسي قانون د محکمی نور واکونه او د فعالیت څرنگوالي د اساسي قانون او د اساسي قانون د محکمی د ځانگړی قانون سره سم تنظیم شوی دی.

## اطریش

د اطریش اساسی قانون د (۱۹۲۰) کال د اکتو بر په لسمه نافذ شو او بیا په (۱۹۲۵) او (۱۹۲۹) کلونو کی ځیني تعدیلات په کی وارد شول.

د (۱۹۳۴) کال د اپریل په ځلورویشتمه یو بل اساسی قانون مینځ ته راغی. خو بیا د (۱۹۵۵) کال د می د میاشتی په لومړی نیټه نوموړی اساسی قانون لغوه او د (۱۹۲۰) کال اساسی قانون بیر ته بیا اعتبار ومومند.

د (۱۹۲۰) کال د اساسی قانون له مخی اطریش یو فدرالی دموکراتیك جمهوریت دی چی له نهو ایالتونو (laender) څخه جوړ شوی دی او د هر ایالت اتباع د نورو ایالتونو سره برا بر حقوق او مکلفیتونه لری.

**جمهور رئیس:**

د فدرال رئیس د اتباعو له خوا د مستقیمو او سری انتخاباتو د اصولو په بنیاد د یوی شپږ کلنی دوری لپاره انتخابیږي او یوازی په راتلونکی متصله دوره کی یوځل بیا انتخابیدلی شی. د جمهور رئیس عمر باید له (۲۵) کلونو څخه زیات وي او د جمهوری ریاست په دوره کی د کوم انتخابی اورګان غړیتوب او یا کومه بله دنده ترلاسه کولی نه شی.

**مقننه قوه:**

د اساسي قانون د حکمونو سره سم فدرالی اسامبله (Bnudestrat) چی له دوو خونو - ملي شورا او فدرالی شورا څخه مرکبه ده د مقننه قوی په حیث خپلی دندی تر سره کوی.

ملي شورا د بوند (Bund) یا فدراسیون د نارینه او ښځو اتباعو له خوا چی د (۲۲) کلنی عمر یی پوره کړی وی، د مساوی، مستقیمو او سری رای ورکولو د اصولو سره سم دیوی (٤) کلنی دوری لپاره انتخابیږی. رای ورکول حتمی دی.

فدرالي شورا د ایالتونو له استازو څخه د نفوسو په تناسب انتخابیږی.

**اجرائیه قوه:**

اجرائیوی قدرت د جمهور رئیس (د فدرال رئیس) په واك کی دی. فدرالی دولت فدرالی صدر اعظم (Chance Llor) د صدراعظم له مرستیال او وزیرانو څخه متشکل دی او د ملي شورا په وړاندی مسوولیت لری.

**قضائیه قوه:**

قضائیه قوه د ستری محکمی او نورو محکمو له خوا اعمالیږی. قاضیان د قضایی دندو په سر ته رسولو کی مستقل دی. د اداری شخړو د پریکړی او اداری قوانینو د تطبیق لپاره ځانګړی «اداری محکمه» جوړه شوې ده چې په لاندنیو مواردو کی د شکایت (دعوی) په صورت کی پریکړی صادروی:

- د قانون په خلاف د اداری مقامونو اجراآت.

- د اداری قدرت څخه غیرقانونی استفاده او یا د یوه فرد په وړاندی له زور او جبر څخه کار اخستل.
- له اداری قدرت څخه په ناوړه توګه کار اخستل او یا له قانونی اداری واک څخه کار نه اخستل.

**د اساسی قانون محکمه:**

د اطریش په اساسي قانون کې (له ۱۳۷ څخه تر ۱۴۸ مادو پورې) د اساسي قانون د محکمی د واکونو او فعالیت د څرنګوالی په هکله حکمونه تنظیم شوی دی.

د نوموړی اساسی قانون د حکمونو له مخی د اساسي قانون محکمه د رئیس او د رئیس د مرستیال په ګډون (۱۴) تنه اصلی غړی او (۶۹) تنه علی‌البدل غړی لری چی د فدرالی حکومت، ملی شورا او فدرالی شورا په پیشنهاد د قاضیانو، قانون‌پوهانو او د حقوقو د استادانو له جملی څخه چی د لسو کلونو د کار سا بقه ولري د جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږی.

د فدرالي او ایالتی حکو مت غړی، د ملي شورا، فدرالی شورا او د هر بل انتخابی اورګان غړی او همدا رنګه د سیاسی ګوندونو غړی او مستخدمین د اساسي قانون په شورا کی ټاکل کیدلی نه شي او که چا په تیرو څلورو کلونو کی نوموړی دندی سر ته رسولی وی هم د اساسي قانون د محکمي په غړیتوب نه ټاکل کیږی.

د اساسي قانون د غړی د واك دوره د هغه کال د دسمبر په یودیرشمه نیټه چې قاضي د خپلی (۷۰) کلنی عمر بشپړ وی پای ته رسیږی.

د اساسی قانون محکمه په لاندنیو مواردو کې پریکړه کوی:

- د فدرالي او ایالتی دولتونو ترمنځ د تنازع له مینځه وړل.
- د اساسي قانون د حکمونو سره د فدرالی او ایالتی قوانینو د سمون څیړنه.
- د جمهوری ریاست او ښاروالیو د انتخاباتو دایرول.
- د ملي شورا او ایالتی مقننه جرګو د انتخاباتو د قانونیت څارنه.

د اساسي قانون محکمه برسیره پر دی د فدراسیون، ایالت، ناحیو، ښاروالیو او د ښاروالیو د کمیسینو نو پر ضد د مالی دعواو په هکله چی د قانون د عادی بهیر او یا اداری تصمیم له مخی یی فیصله نه وی شوی، پریکړه کوی.

د اساسی قانون محکمه د اساسي قانون د نقض او د وظیفوی جرمونو په صورت کې د فدرالی او ایالتی مقامونو په هکله فیصله صادروی او د لاندنیو مقامونو او اشخاصو په ضد د اساسي قانون د محکمی په وړاندی دعوی کیدلای شی

- د جمهور رئیس پر خلاف د فدرالي اسامبلی دتصمیم له مخی.
- د فدرالي حکومت د غړو پرخلاف د ملي شورا د تصمیم له مخي.
- د ایالتی حکومت د غړو پر خلاف د ایالتی شورا د تصمیم له مخی.

- د والي او د هغه د مرستيال پر خلاف د فدرالي حکومت د تصميم له مخې.
- د فدرالی پای تخت (و يانا) د مقامونو پر خلاف د فدرالی حکومت د تصميم له مخې.

د اساسی قانون د محکمی نور واکونه او د فعاليت څرنګوالی په ځانګړی فدرالی قانون کی تنظيم شوی دی.

د اساسی قانون د محکمی حکم واجب‌التنفيذ دی او خپريږی.

## ایټالیا

په ایټالیا کې د (۱۷۷۹) څخه تر (۱۸۴۹) کلونو په موده کې نژدی (۲۳) اساسی قوانین او د هغه معادل اساسی اصول نافذ او لغوه شول. خو پدی ټولو اساسي قوانینو کی ډیر مهم اساسي قانون چی یوه اوږده موده یعنی د دویمی نړیوالی جګړی د کلونو پوری یی هم دوام وکړ، هغه دساردینیا د پاچاهي اساسي قانون و چی د شاه چارلس البرت له خوا یی د (۱۸۴۸) کال دفبروری په اتلسمه نیټه د نفاذ وعده ورکړل شوی وه او د (۱۸۴۸) کال د مارچ په څلورمه نیټه خپور شو، خو کله چی فاشیست موسولینی په ایټالیا کی د قدرت واکی تر لاسه کړی، د ځینو نورو قوانینو په ګډون یی په نوموړی اساسی قانون کی بدلونونه او تعدیلات مینځ ته راوستل.

په ایټالیا کې د خلکو عمومی رای اخیستلو ته د مراجعی کولو وروسته سلطنتی رژیم په جمهوری رژیم بدل شو.

د ایټالیا د جمهوریت د (۱۹۴۷) کال د دسامبر د دوه ویشتمی نیتی نوی اساسي قانون د موسسانو د مجلس له خوا د نوموړی کال د دسامبر په اووه ویشتمه نیټه تائید او د (۱۹۴۸) کال د جنوري په لومړی نیټه نافذ شو.

د نوموړي اساسي قانون د حکمونو سره سم د دولتی قدرت لوړ مقامونه او د عامه قواو موسسات په لاندی توګه تنظیم شوی دی:

**مقننه قوه:**

د ایټالیا پارلمان د دوه خونه‌ایز سیستم په بنسټ – د ولسی جرګې او سنا د مجلس څخه جوړ شوی دی.

د ولسی جرګې وکیلان د خلکو له خوا د (۵) کلونو لپاره انتخابیږي.

د سناد مجلس غړي د هر ولایت څخه د (٦) کلونو لپاره انتخابیږي.

**اجرائیه قوه:**

اجرائیه قوه د جمهور رئیس په اختیار کې ده چې د (۷) کلونو لپاره د پارلمان په ګډه غونډه کې انتخابیږي.

په داسې حال کې چې د وزیرانو شورا د جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږي، د وزیرانو د شورا رئیس او غړي باید د پارلمان له دواړو مجلسونو څخه د باور رایه ترلاسه کړي.

**قضائیه قوه:**

قضاء د دولت یوه خودمختاره او له نورو دولتي قواو څخه مستقله قوه ده.

جمهور رئیس د قضاء د عالي شورا لارښوونه کوي. قضاوت د خلکو په نامه ترسره کیږي او قاضیان په خپل قضاوت کې یوازې د قانون تابع دي.

د محکمو تشکیلات او واکونه د ځانګړي قانون د حکمونو سره سم تنظیمیږي.

**د اساسی قانون محکمه:**

د اساسی قانون په دریم فصل کې د اساسي قانون د تضمیناتو تر عنوان لاندی په یوه مستقله برخه کې د اساسي قانون د محکمی په هکله حکمونه تنظیم شوی دی.

- د اساسي قانون محکمه په لاندنیو مواردو کې پریکړې کوی:
- د اساسی قانون سره د نورو قوانینو او تقنینی سندونو د سمون په هکله.
- د دولت د مرکزی او سیمه ایزو اورګانونو د واك د تنازع په هکله.
- د اساسی قانون د حکمونو سره سم د جمهور رئیس او وزیرانو پرخلاف د تورونو څیړل.

که چیری د اساسي قانون محکمه د یوه قانون یا معادل تقنینی سند حکمونه د اساسی قانون سره مغایر اعلان او پر یکړه وکړي، د حکم د خپریدو وروسته نوموړی حکمونه خپل اعتبار د لاسه ور کوی.

د اساسي قانون د محکمي پریکړې نهائی دی او کومی بلی مرجع ته نه استول کیږی.

د اساسي قانون محکمه (۱۵) تنه قاضیان لری چی د (۱۲) کلونو لپاره په لاندی ډول انتخابیږی:

- یو ثلث د جمهور رئیس له خوا.
- یو ثلث د پارلمان د ګډی غونډې له خوا.

- او باقي ثلث د ستري محکمې له خوا.

د اساسي قانون محکمه د خپلو غړيو څخه يو تن د رئيس په توګه ټاکي.

د اساسي قانون د محکمې د تاسيس او کار د څرنګوالي په هکله حکمونه د قانون په واسطه تنظيميږي.

## پولنډ

په پولنډ کې د ۱۹۴۷ کال د فبروری په نولسمه یو موقتی اساسی قانون نافذ شو او بیا د نوموړي اساسي قانون په ځای د (۱۹۵۲) کال د جولای د دوه ویشتمی نیټي اساسی قانون منځ ته راغی چی په (۱۰) فصلونو او (۹۱) مادو کی جوړ شوی و.

په نوي اساسي قانون کی اعلام شوی و چی د پولنډ د خلکو جمهوریت د وګړنیزی دموکراسی دولت دی. او همدا رنګه د پولنډ د خلکو په جمهوریت کی قدرت د ښار او کلیو په زیار ایستونکو پوری اړه لري.

خو د پولنډ د خلکود جمهوریت د اوسنی نافذ اساسی قانون له مخی چی په (۱۰) فصلونو او (۱۰۶) مادو کی تصویب شوی دی «د پولنډ د خلکو جمهوریت یو سوسیالستی جمهوریت دی»

د پولندي اساسی قانون یو ځلی د ۱۹۸۲ م کال د مارچ په شپږویشتمه او بیا د۱۹۸۳ م کال د جولای په شلمه تعدیل شوی دی.

د پولنډ د خلکو په جمهوریت کی د دولتی قدرت اورګانونه په دی ډول تنظیم شوی دی:

**پارلمان:**

د پولند پارلمان چی دسییم (Seyme) په نامه یادیږی، د دولتی قدرت تر ټولو لوړ اورګان بلل کیږی. نوموړی پارلمان (٤٦٠) تنه غړی لری چی د یوی څلور کلنی دوری لپاره د خلکو له خوا انتخابیږی.

سییم قوانین وضع کوی، ملی اقتصادی، ټولنیز پلانونه او کلنی بودجه تصویبوی او د دولتی قدرت د ټولو اورګانونو د فعالیت او اجراآتو څارنه کوی.

د سییم مصوبی او سندونه د دولت د شورا د رئیس او منشی له خوا لاسلیک او د دولت د شورا د رئیس په امر په رسمی جریده کی خپریږی.

**دولتی شورا:**

د پارلمان د اجلاسیه دورو تر منځ دولتي چاری د دولت د شورا له خوا رهبری کیږی. سییم په خپله لومړنی غو نډه کی د خپلو غړیو له جملی نه دولتی شورا په لاندي ترکیب سره انتخابوی:

- د دولتی شورا رئیس.
- د دولتی شورا د رئیس (٤) تنه مرستیالان.
- د دولتی شورا منشی
- د دولتی شورا (١١) تنه غړی.

دولتی شورا د پارلمان په مقابل کی مسئو یت لری.

**د کنترول عالی بورد:**

د ټولنیزو اقتصادی پلانونو د تطبیق په هکله د دولتی قدرت د مرکزی او سیمه ایزو اورگنونو، ټولنیزو سازمانو نو، کوپراتیفونو او مربوطو واحدونو په اقتصادی، مالی، تشکیلاتی او اداری فعالیتونو باندي د څارني په مقصد «د کنترول عالی بورد» جوړ شوی دی. د کنترول عالی بورد د صدراعظم تر نظر لاندې کار کوي او د سیيم او دولتی شورا د لارښوونی له مخی د کنترول دنده سر ته رسوي او د خپل فعالیت راپور دولتی شورا ته وړاندی کوی.

د کنترول د عالي بورد رئیس د صدراعظم په پیشنهاد او د دولتي شورا په موافقه د سیيم له خوا ټاکل کیږی.

**د وزیرانو شورا:**

حکومت (د وزیرانو شورا) د پارلمان او د پارلمان د تعطیل په موده کی د دولتی شورا له خوا ټاکل کیږی. د وزیرانو شورا د سیيم په وړاندی او د تعطیل په موده کی د دولتي شورا په وړاندی مسئولیت لری.

د وزیرانو شورا چی د دولتي قدرت اداری او اجرا ئیوی لوړ اورگان دی، لاندینی ترکیب لری:

- صدر اعظم چی د وزیرانو شورا مشري په غاړه لری.
- د صدراعظم مرستیالان.
- د کنترول د عالی بو ردرئیس.
- وزیران.
- په قانون کی د مندرجو بوردونو او کمیټو رئیسان چی د دولتي اداری د لوړو اورگانونو دندي سرته رسوی.

## محکمی او لویه څارنوالی:

د پولنډ د خلکو په جمهوریت کی قضاوت د ستری محکمی، د ولایتونو، ناحیو او اختصاصی محکمو له خوا سرته رسیږی. د کوچنیو جرمونو د قضایي څیړنو په مقصد د کوچنیو جرمو نو بوردونه جوړیږی.

د پریکړو په صادرولو کی د حرفوی قاضیانو تر څنګه وګړنیز منصفین هم برخه اخلی چی د قانون سره سم د خلکو د اړوندو شوراګانو له خوا انتخابیږی.

ستره محکمه تر ټولو لوړ قضایی اورګان دی چی د دولت د شورا له خوا د (۵) کلونو دوری لپاره انتخابیږی. لوی څارنوال د دولتي شورا له خوا ټاکل کیږی او د نوموړی شورا په وړاندې مسئولیت لری.

د څارنوالی اورګانونه د پو لند د لوی څارنوال تابع او د محلی اورګانونو څخه مستقل دی.

## د اساسی قانون محکمه:

د پولنډ د اساسی قانون محکمه د۱۹۸۵ م کال د اپریل د نهه ویشتمی نیټی د ځانګړی قانون په اساس چی په (۷) فصلونو او (۳۶) مادو کی تصویب شوی دی، مینځ ته راغلی ده.

په داسی حال کی چی د نوموړي قانون دوه دیرشم او څلور دیرشم مواد دخپریدو له نیټی څخه نافذ ګڼل شوی دی، پخپله د قانون نفاذ د ۱۹۸٦م کال د جنوری د لومړی نیټي څخه اعتبار لری.

د پولنډ د اساسی قانون محکمه (۱۲) تنه غړي لری چی د حقوق‌پوهانو او داسي اشخاصو له جملی څخه چی د ستری محکمی یا د اداری عالی محکمی د غړیتوب اهلیت ولری د پارلمان له خواد (۸) کلونو لپاره ټاکل کیږی او هر څلور کاله وروسته بدلیږی. د اساسي قانون د محکمی غړی پارلمانی مصئونیت لري او یواځي د اساسي قانون په وړاندی مسوول دی.

د پولنډ د اساسی قانون محکمه د اساسي قانون د حکمونو سره سم تقنینی سندونو او د دولت د مرکزي او رهبری اورگانونو د نورو مقرراتو د سمون او همدارنگه د اساسی قانون سره د محکمو د پریکړو د سمون څارنه کوی.

د پولند د اساسي قانون د محکمې پریکړی د پارلمان د تائید په صورت کی د نفاذ وړ گنل کیږی.

# ترکیه

په ترکیه کی په ۱۹٤٥ کال کی جمهوری رژیم تاسیس او په همدی کال کی د جمهوریت لومړنی اساسی قانون تصویب شو.

د ۱۹٤٥ کال د جنوری په لسمه نیټه بل اساسي قانون مینځ ته راغي. خو نوموړی اساسی قانون د ۱۹۸۰ کال د سپتامبر د یوولسمی نیټی د کودتا په نتیجه کی د تعلیق سره مخامخ شو.

د ترکیې د جمهور یت اوسنی اساسی قانون چې د ۱۹۸۲ کال د نوامبر په اوومه نیټه نافذ شوی دی، د ملی مشورتی اسامبلي له خوا طرحه شوی، د ملي امنیت په شورا کی د ملت د استازو له خوا تصویب او بیا د ترکیې د ملت له خوا په مستقیمه توګه تائید شوی دی.

د نوموړی اساسی قانون له مخی چی په (۱۷۷) مادو کی جوړ شوی د دولت لوړ اورګانونه په لاندی ډول تنظیم شوی دی:

**مقننه قوه:**

د ترکیې ستره ملي اسامبله چی (٤٠٠) استازی لری د ملت له خوا د (٥) کلونو لپاره انتخا بیږی.

**اجرائیه قوه:**

۱. جمهور رئیس: جمهور رئیس د ترکیې د سترې ملي اسامبلۍ له خوا د هغې د غړو څخه د (۷) کلونو لپاره انتخابیږي او ددوهم ځل لپاره انتخابیدلی نه شي.

۲. د وزیرانو شورا:

د وزیرانو شورا د صدراعظم او د هغه له وزیرانو څخه متشکله ده او د ترکیې د سترې ملي اسامبلۍ د غړو او یا د هغه اشخاصو څخه چې په اسامبله کې د غړیتوب اهلیت ولري د جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږي. حکومت د ترکیې د سترې ملي اسامبلي څخه د باور رایه مطالبه کوي.

**قضائیه قوه:**

قضاء د دولت یوه مستقله قوه ده او په قضایي چارو کي لاس وهنه جواز نه لري.

په داسې حال کې چې د محکمو تشکیل، دندې، واکونه او د کار څرنګوالي د قانون د حکمونو سره سم تنظیمیږي د اساسي قانون محکمه، د استیناف عالي محکمه، د دولت شورا، د نظامي استیناف عالي محکمه، د نظامي اداري استیناف عالي محکمه او د صلاحیت د تنازع محکمه د ترکیې په قضائي نظام کې د عالي محکمو څخه شمیرل کیږي.

**د اساسي قانون محکمه:**

د اساسي قانون محکمه (۱۱) تنه اصلي غړي او (٤) تنه علی‌البدل غړي لري چې دوه اصلي او دوه علی‌البدل غړي يې د استیناف د عالي

محکمی څخه، دوه اصلی او یو علی‌البدل غړی یې د دولت د شورا او یو یو غړی د نظامی استیناف د عالی محکمی، د نظامی اداری استیناف عالی محکمه او د حسابې څیړنې د محکمې څخه او نور غړی د جمهور رئیس له خوا د حقوق پوهانو له جملی نه چی د (٤٠) کلونو څخه زیات عمر ولري او یا یې د (١٠) کلونو څخه زیات کار کړی وی، د څلورو کلونو لپاره ټاکل کیږی.

د اساسی قانون محکمه د اصلی غړیو څخه دڅلورو کلونو لپاره خپل رئیس او نائب رئیس انتخابوی.

د اساسی قانون محکمه د اساسي قانون سره د قوانینو، تقنیني فرامینو او دترکیې دستري اسامبلی داجراآتو د اصولو د سمون څیړنه کوی.

جمهور رئیس، د وزیرانو د شورا غړی، د اساسی قانون د محکمی، داستیناف د عالی محکمی، د دولت د شوراء، د نظامی استیناف د عالی محکمی او نظامی اداری استیناف د عالي محکمی غړی او رئیسان، د نوموړو محکمو د څارنوالیو رئیسان، د جمهوریت څارنوالان او مرستیالان، د قضاء دعالي شورا رئیس، غړی او څارنوال او د حسابې محکمی رئیس او غړی د وظیفوی جرمونو د ارتکاب له امله د اساسی قانون د محکمی له خوا د ستری محکمی په توګه محاکمه کیږی. په دغه حالت کې لوی‌څارنوال یا د هغه مرستیال د لوی‌څارنوال په توګه دعوی اقامه کوی.

د اساسی قانون محکمه د اساسي قانون د حکمونو سره سم نوری دندي سر ته رسوي او پریکړی یې نهایې دی.

## چکوسلواکیا

د چکوسلواکیا له خپلواکۍ وروسته چې په پاریس کې د مازاریك له خوا اعلان شوه، د چکوسلواکیا موقت اساسي قانون د ۱۹۱۸ کال د نوامبر په اتلسمه نیټه تصویب شو چې بیا د ۱۹۲۰ کال د فبرورۍ په نهمه ویشتمه نیټه د چکوسلواکۍ دایمي اساسي قانون د موقت اساسي قانون ځای و نیو.

د دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د (۱۹٤۸) کال د جون په نهمه نیټه په چکوسلواکیا کې نوی اساسي قانون تصویب شو. پدې اساسي قانون کې ویل شوي وه چې:

- «د چکوسلواکیې دولت د خلکو دموکراتیك دولت دی»

- «د چکوسلواکیې جمهوریت د چك او سلواك د دوو ملیتونو متحد او متساوي‌الحقوق دولت دی»

د نوموړي اساسي قانون څخه (٤۰) کاله وروسته د (۱۹۹۰) کال د جولای په اتلسمه په چکوسلواکیه کې یو بل اساسي قانون نافذ شو چې د ځینو بنسټیزو تعدیلاتو سره تر اوسه پورې اعتبار لري. د دې قانون په لومړۍ ماده کې راغلي دي چې:

«د چکوسلواکیا سوسیالستی جمهوریت یو سوسیالستی دولت دی چی د کارگری طبقی په رهبری د کارگرا نو، بزگرانو او روشنفکرانو د اتحاد په بنا جوړ شوی دی.»

د (۱۹٦۹۸) کال د اکتو بر په اووه ویشتمه نیټه «دچکوسلواکیا د فدراسیون» په هکله یو سلو دری څلویښتمه گڼه خورا ستر او مهم فرمان تصویب شو چی د چکوسلواکیی د (۱۹٦۰) کال په اساسي قانون کی یی ژور تعدیلات راوستل او د اساسي قانون (۵۳) مادی یی حذف او تعدیل کړی. نوموړی فرمان چی (۱۵۱) مادی لري، د چکوسلواکیی په دولتی نظام کی یی ډیر ستر بدلون راووست او په نوموړی هیواد کی یی فدرالی نظام ایجاد کړ. د مثال په توگه د نوموړی فرمان لومړي ماده داسی حکم کوی:

«ـ د چکوسلواکیی سوسیالستی جمهوریت د چك او سلواك د دوو برابر و ورونېو ملیتو نو فدراتیف دولت دی.

- دچکوسلواکیا سوسیالستی جمهوریت د چك دسوسیالستی جمهوریت او سلوواك د سوسیالستی جمهوریت څخه جوړ شوی دی چی دواړه جمهویتو نه د چکو سلواکیی په سوسیالستی جمهوریت کی مساوی موقف لري ».

بر سیره په نوموړی فرمان د ۶۸- ۶۹ او ۷۱ کلونو په ترځ کی ځینی نور فرمانونه هم صادر شوی او د فدرالی چکوسلوا کیی په اساسي قانون کی یی تعدیلونه راوستی دی چی مونږ د بیلابیلو تقنینی سندونو د څیړلو په نتیجه کي دولتي اورگانونه په لنډه توگه معرفي کوو:

### د فدرال اسامبله:

د فدرال اسامبله د دولتی قدرت او قانون جوړولو تر ټولو لوړ اورګان دی چې د خلکو له شورا او ملیتونو له شورا څخه جوړه شوی ده. د خلکو شورا (۲۰۰) غړی او د ملیتو نو شورا (۱۰۰) غړی لری چی (۷۰) تنه د چك له جمهوریت او (۷۰) تنه د سلوواك له جمهوریت څخه انتخابیږی. د فدرالي اسا مبلی د واك دوره (۵) کاله ده.

### جمهور رئیس:

جمهور رئیس د فدرال د اسامبلی د دواړو شوراګانو په ګډه غونډه کی انتخابیږی. جمهور رئیس فدرال اسامبلی ته مسئول دی او د هغی په وړاندی لوره کوی.

### د فدرال حکومت:

د فدرال حکومت د دولتی قدرت تر ټولو لوړ اجرائیوی اورګان دی او له صدراعظم، د صدراعظم له مرستیالانو او وزیرانو څخه جوړیږی. د حکومت غړی د جمهور رئیس په وړاندی لوړه کوی.

حکومت د خپلی کړنلاری د وړاندی کولو په ترڅ کی له فدرال اسامبلی څخه د باور د رایی غوښتنه کوی. حکومت د فدرال اسامبلی ته مسئوول دی او د فدرال اسا مبلی هر مجلس کولای شی چی له حکومت څخه د کل په توګه او یا له وزیرانو څخه په ځانګړي توګه باور سلب کړی.

### محکمی او څارنوالی:

د چکوسلواکیې په سوسیالستی جمهوریت کی قضاوت د چکوسلواکیا د سوسیالستی جمهوریت د ستری محکمی، د چك جمهوریت د ستری محکمی، د سلو واك جمهور یت د ستری محکمی او د سیمه ایزو او نظامی حکمو په واسطه سرته رسیږی.

د چکوسلواکیې د جمهوریت ستره محکمه د فدرالي اسامبلی او نوری محکمی د اړوندو شوراگانو له خوا انتخابیږی. د چکوسلواکیا د جمهویت لوی‌څارنوال د جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږی.

د محکمو او څارنوالیو واکونه او د کار څرنگوالي د اساسی قانون او نورو قوانینو له مخی تنظیم شوی دی.

**د اساسی قانون محکمه:**

په چکوسلواکیا کی د اساسی قانون محکمه د لومړي ځل لپاره د (۱۹۲۰) کال په اساسي قانون کی تنظیم شوی وه چی (۷) تنه غړی یی درلودل.

د اساسي قانون د محکمی (٤) غړی د عالی اداری محکمی او عالی قضائی محکمی او (۳) تنه غړی د مقننه مجلسونو په پیشنهاد د جمهور رئیس له خوا د (۱۰) کلونو د مودی لپاره انتخابیدل.

د اساسي قانون د محکمی په وړاندی یوازی مقننه مجلسونو، قضایی عالی محکمی او د انتخابا تو محکمی دقانون له نفاذ څخه د دری کلونو په موده کی د دعوی کولو حق درلود. خو د چکوسلواکیې په فدرالی سوسیال قوانینو کی د اساسی قانون محکمه لغوه شوه.

لکه چې د مخه مو وویل د چکوسلواکیا اساسي قانون د ۱۹۷۰ کال د دسامبر په شلمه نیټه تعدیل او د نوموړی تعدیل له مخې یو ځل بیا د چکو ساواکیې په فدرالی سوسیالیستی جمهوریت کی د اساسی قانون محکمه جوړه شوه.

د نوموړي اساسي قانون تعدیل د ټول شپږم فصل (۱۵) مادی د اساسی قانون محکمی (محکمو) ته وقف شوی دی چې موږ یې په لاندی توګه خلاصه کوو:

د چکوسلواکیې د اساسی قانون محکمه (۸) تنه قاضیان او (٤) تنه علی‌البدل غړی لری چې د حقوقو په څانګه کې دلوړو تحصیلاتو د فارغانو له جملی څخه چې د کار لس کاله سابقه ولری د فدرالي اسامبلی له خوا د (۷) کلونو لپاره انتخابیږی.

د چکوسلواکیې د سوسیالیستی جمهوریت د اساسی قانون محکمه د اساسي قانون د حکمونو سره د لاندنیو سندونو د سمون د څیړنی واک لری:

- د فدرالي اسامبلی قوانین.
- د جمهوری ریاست د بیرو قانونی تدابیر.
- د حکومت تقنینی فرامین.
- د وزارتونو تصامیم

د چکوسلواکیې د سوسیالستی جمهوریت د اساسی قانون محکمه همدا راز د چک او سلوواك د جمهوریتونو تر مینځ د واکونو د تنازع او له انتخاباتو څخه د راپیدا شوو شکایتونو په هکله پریکړه کوی.

ځرنګه چې د چکوسلواکیې سوسیالستی جمهوریت یو فدرالی دولت دی، نو د چك په جمهوریت او د سلوواك په جمهوریت کې د نورو مقننه، اجرائیه او قضائیه اورګانونو برسیره د اساسي قانون محکمې هم وجود لري. د هغو واکونه او د فعالیت ځرنګوالی د ځانګړو قوانینو په واسطه تنظیمیږی.

## سوریه

سوریه د عثمانی امپراطوری له سقوط څخه وروسته په ۱۹۲۰ کال کې د فرانسې تر قیمومیت لاندې راغله خو د خلکو د ملي غورځنګونو او مبارزو په نتیجه کې د ۱۹۴۱ کال د سپتامبر په یوویشتمه نیټه سوریه خپلواکه شوه او جمهوری رژیم پکې ټینګ شو. په ۱۹۴۳ کال کې د سوریې لومړنی ملی دولت منځ ته راغی.

په ۱۹۵۸ کال کې د سوریې پارلمان د مصر او سوریې یو والی تصویب کړ او عربی متحد جمهوریت مینځ ته راغی. خو سوریه په ۱۹۶۰ کال کې له نوموړی اتحاد څخه ووتله.

سوریې په ۱۹۵۰ کال کې لیکل شوی اساسي قانون درلود چې د سپتامبر په پنځمه نیټه د موسسانو د اسامبلی له خوا په (۱۰) فصلو نو او (۱٦٦) مادو کې تصویب شوی و. د نوموړی اساسی قانون په لومړی ماده کې لیکل شوی وچې «سوریه د یو پارلمانی دموکرا تیك رژیم د پوره حاکمیت لرونکې عربی جمهوریت دی» خو د سوریې د عربي جمهوریت اوسنی نافذ اساسي قانون د ۱۹۷۳ کال د دسامبر په دولسمه نیټه په (۱۵٦) مادو کې تصویب شو او د هغه په لومړی

ماده کې لیکل شوی دی چې: «د سورېې عربې جمهوریت یو وګړنیز دموکرا تیك او د سوسیالیستی حاکمیت لرونکی دولت دی»

په نوموړې اساسی قانون کې د دولت دری ګونی (مقننه، اجرائیه او قضائیه) قواوی په لاندی توګه تنظیم شوی دی:

**مقننه قوه:**

د خلکو مجلس قانون جوړوونکی قوه ده چی د خلکو له خوا نه د یوی څلور کلنی دوری لپاره انتخابیږی.

د خلکو مجلس په کال کی (۳) عادی غونډی جوړوی. دغه مجلس حق لری چی له یو وزیر یا حکومت څخه داستیضاح وروسته باور سلب کړی. که له حکومت څخه باور سلب شی د وزیرا نو د شورا رئیس، جمهور رییس ته خپله استعفاء وړاندی کوی.

**اجرا ئیه قوه:**

د جمهوری ریاست کاندید د بحث د عربي سوسیالیستی ګوند په پیشنهاد د خلکو د مجلس له خوا ټاکل کیږي او د وزیرانو شورا د دولت تر ټولو لوړ اجرائیوي او اداری اورګان دی او د جمهور رئیس په وړاندی مسئوولیت لری.

د خلکو محلی شورا ګاني په اداری واحدونو کی د قانون سره سم خپل واکونه تر سره کوی.

**قضائیه قوه:**

قضاء د دولت یوه مستقله قوه ده. جمهور رئیس د قضایي عالي شورا په مرسته د قضاء استقلال تضمینوي او د قضایي عالي شورا ریاست په غاړه لري.

د اداري شخړو پریکړې د دولتي شورا په واسطه کیږي. لویه څارنوالي یو عدلي اورګان دی چې د عدلیې وزیر د هغې ریاست په غاړه لري. د محکمو او څارنوالي واکونه د قانون سره سم تنظیمیږي.

**د اساسي قانون عالي محکمه:**

د اساسي قانون عالي محکمه د رئیس په ګډون پنځه غړې لري چې د څلورو کلونو لپاره د جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږي.

د اساسي قانون د عالي محکمې غړې په عین وخت کې د وزیرانو د شورا یا د خلکو د مجلس غړیتوب تر لاسه کولای نه شي. د اساسي قانون د عالي محکمې غړې د قانون د حکم پرته د دندې څخه ګوښه کیدلای نه شي.

د اساسي قانون د عالي محکمې رئیس او غړې د دندې د اشغال تر مخه د جمهور رئیس په وړاندي په لاندې ډول لوړه کوي:

«د لوی خدای په نامه لوړه کوم چې د اساسي قانون او قوانینو به درناوی کوم او خپلې دندې به په بې‌طرفانه او صادقانه توګه سر ته رسوم»

د اساسي قانون عالي محکمه د خلکو د مجلس د انتخاباتو قانونیت تر څېړنې لاندې نیسي او د خپلې څېړنې د نتیجو په باب نوموړي مجلس ته راپور ورکوي. همدا رنګه د اساسي قانون عالي محکمه د

جمهور رئیس د غوښتنی سره سم د قوانینو او تقنیني فرامینو د قانونیت په هکله نظر وړاندی کوی.

په داسی حال کی چی د اساسي قانون د عالی محکمی واکونه د اساسی قانون په یوسلو پنځه څلویښتمه ماده کی په مفصله توگه بیان شوی دی، د اساسی قانون یوسلو اته څلویښتمه ماده حکم کوی چی د نوموړی محکمی طرزالعمل، دغړو معاشونه، امتیازات او مصئوونیتو نه د ځانگړی قانون له مخی تنظیمیږی.

## کویټ

په کویټ کې له خپلواکۍ وروسته د لومړي ځل لپاره په ۱۹۹۲ کال کې د حکومت د اساسی نظام په هکله لومړنی ګڼه قانون تصویب او د (۳۴) غړیو په ګډون د موسسانو په نامه مجلس جوړ شو.

د کویټ لومړني اساسی قانون د ۱۹۶۲ کال د نوامبر په یوولسمه نیټه د دولت د امیر له خوا توشیح او نافذ شو. د نوموړي اساسي قانون د حکمونو سره سم کویټ د مرحوم مبارك الصباح د اولادی تر مینځ یو موروثی امارت دی او د امیر له ناستی څخه حد اکثر د یو کال په ترځ کې دامیر د فرمان او ملي شورا په موافقی سره ولیعهد ټاکل کیږی.

ولیعهد دامیر په غیاب کې د امیر د فرمان له مخی د امیر د نائب په توګه اړونده واکونه تعمیلوی.

اسلام د دولت دین دی او اسلامی شریعت د قانون جوړولو د اساسی منبع په توګه پېژندل شوی دی. امیر د دولت رئیس، غیرمسئوول او غیرقابل تعرض دی او د خپلو واکونو د تعمیل تر مخه د ملي شورا په خاصه غونډه کې په لاندی ډول لوړه کوی:

«د لوی خدای په نامه لوړه کوم چې د اساسي قانون او د دولت د قوانینو درناوی، د ملت د آزادی، ښیگنیو او شتمنیو څخه دفاع او د هیواد د خپلواکۍ او ځمکنی بشپړتیا ساتنه کوم»

د امیر نائب هم د ملي شورا په خاصه غونډه کې د دی عبارت په زیاتولو سره چې (امیر ته به وفادار اوسم ) نوموړی لوړه کوی.

د کویټ په امارت کې دولتی دری گوڼی قواوی په لاندی ډول تنظیم شوی دی

**مقننه قوه:**

ملي شورا (۵۰) تنه غړی لری چې د یوی څلور کلنی تقنینی دوری لپاره د خلکو له خوا په عمومی، مستقیمو او سری رایو انتخابیږی.

قانون د ملي شورا تصویب او د امیر له تائید څخه پرته نافذ نه گڼل کیږی.

**اجرائیه قوه:**

د وزیرانو د شورا رئیس او وزیران د امیر له خوا د یوی تقنینی دوری لپاره ټاکل کیږی. د وزیرانو د شورا رئیس او وزیران د امیر په وړاندی مسئوولیت لری.

**قضائیه قوه:**

د قضاء استقلال او د قاضیانو بیطرفي د حاکمیت بنسټ او د حقوقو او آزادیو تضمین گڼل شوی دی.

د محکمو واکونه او همدارنگه د څارنوالی واکونه د قانون سره سم تنظیم شوی دی.

**د اساسی قانون محکمه:**

د اساسی قانون سره د قوانینو او لایحو د نه سمون څخه د رامینځ ته شو وشخړو د پریکړی په مقصد یوه اختصاصي محکمه د قانون له حکمونو سره سمه جوړیږی.

قانون د حکومت او خلکو لپاره د دی حق تضمین کوی چی د نوموړی محکمی په وړاندی د اساسی قانون سره د قوانینو او لایحو د نه سمون په هکله اعتراض وکړی.

که چیری د اساسی قانون محکمه د اساسی قانون سره د قوانینو او لایحو مغایرت تصویب کړی، نوموړی قوانین او لایحی کان لم یکن گڼل کیږی. د اساسی قانون د محکمی واکونه او د فعالیت څرنگواالی د قانون سره سم تنظیمیږی.

## مدغاسکر

مدغاسکر یو افریقائی هیواد دی چی دوه زره کاله تر مخه پکی اندونیزیایی مالائیان میشته شوی دی او اوس هم د نفوسو اکثریت تشکیلوي. په اتلسمه او نولسمه پیړی کی په نوموړی هیواد کی شاهی رژیم تسلط درلود خو په ۱۸۹۵ کال کی سلطنتی رژیم پای ته ورسید. نوموړی جزیره په ۱۸۹۵ کال کی د فرانسی تحت‌الحمایه او بیا په ۱۸۹۶ کال کی د فرانسي مستعمره شوه. مدغاسکر په ۱۹۶۰ کال کی د فرانسی څخه خپله آزادی واخیستله.

مدغاسکر د خپلواکی وروسته هم د فرانسی د مشترك‌المنافعو هیوادونو په جمله کی پاتی شو. لدي امله په ۱۹۷۲ کال کی د نظامیانو د یوی ډلی له خوا په رژیم کی بدلون راغی.

نوی رژیم، فرانسوی ملکیت مالی صنایع ملی کړی او فرانسوي پوځی اډی یې له مینځه یوړلی.

د مدغاسکر موقت اساسي قانون د ۱۹۷۲ کال د نوامبر په اوومه نیټه او نافذ اساسي قانون د (۱۹۷۵) کال د دسامبر په یوه دیرشمه نیټه تصویب شوی دی. د دی اساسی قانون له مخې نوموړی هیواد «د مدغاسکر دمو کرا تیك جمهوریت» په نامه یادیږی.

د اساسي قانون د دریځلویښتمی مادی د حکم سره سم د مدغاسکر دموکراتیك جمهوریت موسسی اورګنو نه) په لاندی ډول دی:

**جمهور رئیس:**

جمهور رئیس د دولت رئیس دی چی د انقلاب د عالي شورا په پیشنهاد د خلکو د عمومي او مستقیمو رایو په بنا د (۷) کلونو لپاره انتخابیږي او کیدلی شی چی بلی دوری ته هم انتخاب شي.

جمهور رئیس د ملت او د اساسي قانون د عالی محکمی په وړاندی د وفاداری لوړه کوی.

**د انقلاب عالی شورا:**

د انقلاب عالی شورا د ملغاسی د سوسیالیستی انقلاب ساتونکی ده او د جمهور رئیس سره د دولت د عمومی سیاست په طرحه او تطبیق کی مرسته کوی. جمهور رئیس د انقلاب د عالی شورا رئیس دی او د نوموړی شورا یو ثلث غړی هم ټاکی. د انقلاب د عالي شوراع یو ثلث غړی د خلکو د ملی جرګی او نور یې د قانون حکمونو سره سم ټاکل کیږی.

**حکو مت:**

حکومت د دولت د اداري لوړ اورګان دی. صدراعظم د انقلاب د عالی شورا په مشوره د جمهور رئیس له خوا او وزیران د صدراعظم په پیشنهاد د جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږی. د وزیرانو د شورا ریاست جمهور رئیس کوی.

پورتنی مقامونه د اجرائیه قوی په توګه یادیږی.

**د خلکو ملی جرګه:**

د خلکو ملی‌جرګه یو دولتی اورګان دی چی د قانون جوړولو دندی ورته سپارل شوی دی. د خلکو د ملی‌جرګی وکیلان د (۵) کلونو لپاره د خلکو د عمومي او مستقیمو رایو له مخی انتخابیږی.

د خلکو ملی جرګه کولای شی چی له حکومت څخه باور سلب کړی. پدی صورت کی جمهور رئیس نوی حکومت جوړوی.

**د پراختیا لپاره نظامی کمیته:**

دا یو مشورتی اورګان دی چی د ملی دفاع او ټولنیزو اقتصادی پروګرامونو په هکله تری مشوره اخستل کیږی. د پراختیا لپاره نظامی کمیته د ټولنیزو او اقتصادی پراختیایی پروژو په طرح او ترتیب کې برخه اخلي او د خلکو وسله والو ځواکونو ته یی د تطبیق لپاره ورسپاری.

**د اساسی قانون محکمه:**

د اساسي قانون په اووم فصل کی د اساسی قانون د عالی محکمی په ګډون د محکمو او قضايي نظام په هکله احکام تنظیم شوی دی. د

مدغاسکر په جمهور یت کې عدالت د تمیز د محکمې، د مرا فعو او نورو محکموله خوا تامین کیږی. جمهور رئیس د قضاء د استقلال حما یت کوي او د قضاء دعالی شورا په رأس کې واقع دی. د تمیز محکمه د نورو محکمو لارښوونه کوی او غړی یې د خلکو د ملی جرگې له خوا انتخابیږی. د تمیز محکمه د خلکو د ملی جرگې او د هغې د تعطیل په موده کې دا نقلاب د عالی شورا په وړاندی مسئوولیت لری.

جمهور رئیس او د انقلاب د عالی شورا غړی د جنایت او جنحي د ارتکاب په صورت کې د عدالت په عالی دیوان کې محاکمه کیږی. د عدا لت د عالی دیوان په ترکیب کې د مرافعي د محکمو دوه لومړی رئیسان او د خلکو دملی جرگې (٦) تنه وکیلان غړیتوب لری. د نوموړی دیوان ریاست د تمیز د محکمې د رئیس په غاړه دی.

د اساسی قانون عالی محکمه (٧) غړی لری چی د مشاورینو په نامه یادیږی.

**مصر**

په مصر کې د ۱۹۵۲ کال د جولای په میاشت کې پادشاه له قدرت څخه گوښه او د همدی کال د دسامبر په دریمه نیټه د۱۹۲۳ کال اساسی قانون لغوه شو. د۱۹۵۳ کال د فبروری په لسمه نیټه «د مصر د جمهوریت د موقت اساسی قانون اصول»

The Principles of the interin Constitution په (۱۱) مادو کې نا فذ او بیا د همدی کال د جون په اتلسمه نیټه جمهوریت اعلان شو.

په نوموړو اساسی اصولو کې راغلي وو چې خلك د ټولو ځواکونو سرچینه ده او ټول مصریان د قانون په وړاندی برابر دی. حکومت هم تقنینی او هم اجرائیوی دندی سر ته رسو لی.

د مصر د عربي جمهور یت اوسني اساسي قانون د ۱۹۷۱ کال د سپتامبر په یوو لسمه نیټه نافذ شوی دی او په هغی کی د جمهور رئیس او د دولت ددری گونو قواو د واکونو حدود مشخص شوی دی.

**جمهور رئیس:**

جمهور رئیس د دولت مشر دی چی د خلکو مجلس یې د رایو په دوو ثلث کاندیدوی او د خلکو له خوا د (۹) کلونو لپاره انتخابیږی.

جمهور رئیس د وزیرانو شورا ټاکی او ړنگوی یې او همدارنگه د مقننه مجلس د ړنگولو حق لری.

د اساسي قانون د عالی محکمی دوه غړی د جمهور رئیس له خوا، دوه غړی د انقلاب د عالی شورا له خوا، یو غړی د حکومت له خوا او دوه غړی د یوی بلی دوری لپاره هم ټاکل نوی مودې لپاره ټاکل کیږی چی کیدلی شی.

د اساسي قانون د عالی محکمی رئیس د جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږی او د نورو غړو ټاکنه هم د جمهور رئیس د فرمان په واسطه اعلانیږی. د اساسي قانون د عالی محکمی غړی نشی کولی چی په عین حال کی د انقلاب دعالی شورا د حکومت یا د انتخابی اورگانونو غړیتوب ولری او یا نوری رسمی دندی سرته ورسوی. د اساسي قانون عالی محکمه لاندنی واکونه لری:

- د اساسی قانون سره د قوانینو، فرامینو او مقرراتو د سمون څیړنه.

- د دولتی مرکزی او سیمه ایزو اورګانونو د واک د تنازع په هکله پریکړه.
- د جمهوري ریاست د انتخبا تو د قانونیت څیړ نه.
- د انقلاب د عالي شورا د غړو د ټاکلو د قانونیت څیړنه او د وکیلانو د انتخاباتو څیړنه.
- د اساسی قانون سره د خلکو د ملی جرګی، د ننیو دندو د لایحی د سمون څیړنه.
- د قوا نینو تفسیر.

د اساسي قانون د عالی محکمی پریکړی نهایی دی.

**مقننه قوه:**

د خلکو مجلس مقننه قوه ده چی د یوی پنځه کلني دوری لپاره د مستقیمو، سری او عمومی رای اخیستلو په اساس انتخابیږی. د خلکو مجلس چی د (۳۶۰) په شاو خواکی غړی لري، لږ تر لږه نیمایی استازی یی باید د کارګرانو یا بزګرانو له جملی څخه وی.

**اجرائیه قوه:**

حکومت د دولت تر ټولو لوړه اجرائیه قوه ده او د وزیرانو د مجلس له رئیس، د هغه له مرستیالانو، وزیرانو او د هغوی له نایبانو څخه جوړ شوی دی.

د وزیرانو د مجلس رئیس د حکومت د اجراآتو څارنه کوی.

**قضاء:**

قضاء د دولت مستقله قوه ده او قاضیان په قضاوت کې یوازې د قانون تابع دي.

**د اساسي قانون محکمه:**

په داسې حال کې چې د مصر د عربي جمهوریت په دولتي نظام کې قضاء د دولت د یوې مستقلې قوې په حیث پیژندل شوې ده خو پر هغې برسیره د اساسي قانون د پنځم فصل په یو سلو دری او یایمه ماده کې «د مصر په عربي جمهوریت کې د اساسي قانون عالي محکمه په ځان متکې او د قضایي مستقل اورګان په توګه» پیژندل شوې ده چې مقر یې په قاهره کې دی.

د اساسي قانون عالي محکمه د اساسي قانون سره د قوانینو او لوایحو په سمون قضایي څارنه او همدارنګه د تقنیني اسنادو تفسیر کوي.

د اساسي قانون له مطابقت څخه د را مینځ ته شویو دعوی‌ګانو په هکله د اساسي قانون د عالي محکمې پریکړې او همدا رنګه د تقنیني نصوصو په هکله د هغې تفسیرو نه په رسمي جریده کې خپریږي.

د اساسي قانون د عالي محکمې د پریکړو څخه رامینځ ته شوې نتیجې د قانون په واسطه تنظیمیږي.

## یوګوسلاویا

په یوګوسلاویا کی د سوسیالستی نظام له استقرار نه وروسته په ترتیب سره په ۱۹۶۶ - ۱۹۵۳ - ۱۹۶۳ ۱و ۱۹۷۴ کلونو کی اساسی قوانین تصویب شوی دی، چی دغه وروستني اساسي قانون په (۱۰) برخو او (٤٠٦) مادو کی نافذ شوی او تر اوسه پوری اعتبار لری.

د نوموړی اساسی قانون په لومړی ماده کی تصریح شوی دی چی د یوګوسلاویا سوسیالیستی فدرالی جمهوریت یو فدرالی دولت دی چی د دولتي ټولني په بڼه کی د ملیتونو او د هغوی د سوسیالستی جمهوریتونو او سوسیالیستی خودمختارو ولایتونو د خپلی خوښی یووالي څخه منځ ته راغلی دی.

همدا رنګه د اساسي قانون د دویمی مادی د حکم سره سم د یوګوسلاویا فدرالی سوسیالستی جمهوریت د بوسنیا هرزه ګوین

سوسیالستی جمهوریت دکروتیا سوسیالیستی جمهوریت، د ما کیدونیا سوسیالیستی جمهوریت، د مونتنگرو سوسیالیستی جمهوریت، د سربیا سوسیالیستی جمهوریت او همدارنگه د وی و ودینا سوسیالیستی خودمختار ولایت او کوسوو سوسیالیستی خودمختار ولایت (چې د سرب سوسیالیستی جمهوریت یوه برخه تشکیلوی) او د سلووینسیا د سوسیالستی جمهوریت څخه جوړ شوی دی.

د یوگسلاویا د فدرالي سوسیالستی جمهوریت اسامبله د دولتی قدرت تر ټولو لوړ اورگان دی چې له دوه خونو یعنی د فدرال مجلس او د جمهوریتو نو او ولایتونو له مجلس څخه جوړه شوی ده.

د فدرال مجلس (۲۲۰) او د جمهوریتونو او ولایتونو مجلس (۸۸) غړی لری.

اساسی قانون له ۲۱۷ څخه تر ۲۳۶ مې مادی پوری د محکمو او څارنوالیو په هکله احکام لري. له ۳۷۵ څخه تر ۳۹۶ یمی مادی پوری د یوگوسلاویا د اساسی قانون حکمونه د اساسی قانون د محکمی په هکله په یو ځانگړی فصل کی اختصاص شوی دی.

پدی هکله باید وویل شی چې په سوسیالستی نړی کی یوگوسلاویا لومړنی هیواد دی چې د اساسی قانون سره یې د قوانینو د سمون په مقصد د قضایي څارنی سیستم غوره کړی او د اساسی قانون محکمه‌یې جوړه کړی ده.

یوګوسلاویایی قانونپوه پروفیسور دکتور جوزف تراجکویخ په خپل کتاب «د یوګوسلاویا قضایی نظام» کې لیکلي چې د سوسیالستی یوګوسلاویا سیاسی نظام څو کاله تر مخه د یوی نوی موسسی په رامنځ ته کولو سره چې په نوره نړی کې اوږده سابقه لری خو د سوسیالیستی هیواونو په تیوری او سیستم کې ورته پام نه دی شوی، لازیات شتمن شو او هغه دا چې د ۱۹۶۳ کال د اساسی قانون له مخې د یوګوسلاو یا په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د سوسیالستي نظام په د ننه کې د اساسی قانون محکمی د اساسي قانون او قوانینو د حافظ او ساتونکی اورګان په توګه ایجاد شوی. څرنګه چې یوګوسلاویا یو فدرالی نظام دی نو د نورو دولتي اورګانونو په څیر په هغې کې د یوګسلاو یا د فدرالی سوسیالستی جمهوریت د اساسی قانون محکمه، د سوسیالستی جمهوریتونو د اساسی قوانینو محکمی او دسوسیالستی خود مختارو ولایتونو د اساسي قوانینو محکمی وجود لری.

د یوګوسلاویا د فدرالی سوسیالستی جمهوریت اساسی قانون محکمه څوارلس غړی لری چې د یوګوسلاویا د سوسیالستی فدرالی جمهوری اسامبلي له خوا له هر جمهوریت څخه دوه غړی او د هر خود مختار ولایت څخه یو غړی انتخابیږی.

د اساسی قانون د محکمی رئیس او غړی د (۸) کلونو لپاره انتخابیږی او د بل ځل لپاره انتخاب کیدلای نه شی. هغوی په عین وخت کې د دولت په نورو اورګانونو کې کار نه شي کولی او د فدرال، جمهوریت او خودمختار ولایت د اسامبلو د استازو مصئونیت لری.

د یوگوسلاویا د اساسی قانون محکمه د واکونو ډیره پراخه ساحه لری چی غټ غټ واکونه‌یی په لاندی ډول دی:

- د یوگوسلاویا د اساسی قانون سره د قوانینو له مغایرت څخه د را پیدا شویو قضیو څیړل.
- د فدرال قوانینو سره د جمهوریت یاخودمختار ولایتونو د قوانینو له مغایرت څخه د را پیدا شویو قضیو څیړل.
- د یوگوسلاویا د فدرالی سوسیالیستی جمهوریت د اساسی قانون او فدرال قوانینو سره د فدرال اورگانونو د مقرراتو او عمومی مصوباتو له مغایرت څخه د را پیدا شویو قضیو څیرل.
- د اساسي قانون او یا فدرال قوانینو سره د ټولنیزو سیاسی واحدونو د اورگانونو د عمومی مصوباتو او د خودگردان د عمومی مصوباتو له مغایرت څخه د راپیداشو قضیو څیړل.
- د اساسی قانون سره سم د خودمختارو ولایتونو د فدرال اورگانونو او د جمهوریت د اورگانونو د اجرائیوی واک له تنازع څخه د را پیدا شویو قضیو څیړل.
- د جمهوریت او خودمختارو ولایتونو د اساسي قانون د محکمو ترمینځ د واک له تنازع څخه د راپیدا شویو قضیو څړل.
- د فدرال، جمهوریت او خودمختارو ولایتو نو د محکمو او اورگانونو ترمینځ د واك له تنازع څخه د راپیدا شویو قضیو څیړل.

# څلورمه برخه

## غیرقضايي څارنه او د اساسي قانون د ساتنې اورګانونه

تر دې ځایه پورې موږ د نړۍ په بیلابیلو حقوقي او سیاسي نظامونو لرونکو هیوادونو کې د اساسي قانون سره د قوانینو د سمون لرلو څیړنې په مقصد د اساسي قانون محکمې تر مطالعې لاندې ونیولې. خو په ځینو نورو هیوادونو کې د همدې مقصد لپاره محکمې نه بلکې متخصص حقوقي اورګانونه ایجاد شوي دي چې د اساسي قانون د

شوراګانو، د اساسی قانون د کمیټو او داسی نورو نوموړو سره یاد شوی دی.

یو ټکی چی باید ورته اشاره باید وکړو هغه دا دی چی د اساسی قانون د قضایی څارنی په سیستم کی باید د فرد یا کوم دولتی اورګان له خوا (د مدعی په توګه) د محکمی په وړاندی دعوی او شکایت وجود ولری او محکمه په خپل ابتکار د اساسی قانون سره د قوانینو د حکمونو سمون نه څیړی. خو د اساسي قانون په غیرقضایی څارنه کی دغه شرط حتمی نه دی او د اساسی قانون د ساتنی اړوند اورګانونه په خپل ابتکار هم د اساسی قانون سره د قوانینو د سمون څیړنه کولای شي. مونږ به د غیرقضایی څارنی په اساس د اساسی قانون د ساتنی اړوند اورګانونه د نړی په بیلابیلو هیوادونو کی د څیړنی لاندی ونیسو:

## افغانستان

### د اساسي قانون شورا:

څرنګه چی د (۱۳۶۹) کال اساسی قانون تر اوسه پوری نافذ او له بلې خوا د دی رسالی په لومړی برخه کی د نوموړي اساسي قانون په هکله یوڅه ویل شوی دی، نو پدی برخه کی د دولت د دری ګونو قواو په هکله توضیح نه ورکوو او یوازی به د افغانستان جمهوریت د اساسي قانون د شورا په هکله معلومات وړاندی کړو.

د افغانستان جمهوریت د اساسي قانون لسم فصل د اساسی قانون شورا ته تخصیص شوی او په یو سلو دوه ویشتمه ماده کې یې ویل شوی دی چې د افغانستان د جمهوریت د اساسی قانون شورا د اساسي قانون سره د قوانینو، نورو تقنینی اسنادو او بین‌المللی تړونونو د سمون لرلو د څارنې په مقصد جوړېږي.

د اساسي قانون په یو سلو اووه ویشتمه ماده کې ویل شوی دی چې د اساسی قانون د شورا تشکیل او د فعالیت څرنگوالی د قانون په واسطه تنظیمیږي. د نوموړې مادې د حکم سره سم د افغانستان جمهوریت د اساسي قانون د شورا قانون په (٤) فصلونو او (٢١) مادو کې جوړ او د ۱۳۹۷ کال د جوزا د میاشتې په شپږمه نیټه نافذ شوی دی. د نوموړي قانون او د افغانستان جمهوریت د اساسي قانون د حکمونو سره سم د اساسی قانون شورا لاندنی واکونه لری:

١ د اساسی قانون سره د قوانینو، تقنیني فرمانونو، نورو تقنینی سندونو او د بین‌المللی تړونونو د سمون لرلو څارنه.
٢ د اساسی قانون سره د هغه تقنینی سندونه د مطابقت په هکله نظر څرگندول چې جمهور رئیس ته د توشیح لپاره وړاندی کیږی.
٣ جمهور رئیس ته د اساسی قانون څخه د راولاړو شویو مسایلو په باب د حقوقی او قضایی مشورو ورکول.
٤ جمهور رئیس ته د قانون جوړولو د چارو د پر مختیا په مقصد د تدبیرونو د نیولو په برخه کې چې اساسی قانون حکم کوی د مشخصو پیشنهادونو وړاندی کول.

د اساسي قانون شورا له رئیس او (۸) تنو غړیو څخه جوړه ده چې د جمهور رئیس له خوا د (۹) کلونو لپاره ټاکل کیږي.

د اساسي قانون شورا د اساسي قانون د یو سلو څلویښتمی مادی د حکم سره سم په نوموړی ترکیب سره د جمهوری ریاست د ۱۳۹۷ کال د جوزا د میا شتی د اتمی نیټی په (۲۹۰) یمي ګڼی فرمان له مخی ایجاد شوی ده.

د اساسی قانون شورا جمهور رئیس ته مسووله او د راپور په ورکولو مکلفه ده.

د اساسی قانون د شورا د غونډو نصاب د غړیو د دوو ثلثو په حضور سره تکمیلیږي او په غونډو کی د ټولو برخه والو غړیو د رایو په اکثریت سره تصمیم نیسی.

د اساسی قانون د شورا نظریې په رسمی جریده کی خپریږی. د اساسی قانون شورا لږ تر لږه په اونی کی یو ځل غونډه کوي او د هغی فوق‌العاده غونډی د جمهور رئیس په هدایت، د اساسی قانون د شورا د ئیس د تصمیم له مخي او همدارنګه د شورا د غړو د یو ثلث په پیشنهاد جوړیدای شی.

د اساسي قانون د شورا غړی په قانون کی د ټاکل شویو حالاتو څخه پرته له دندي څخه نه ګوښه کیږی او له مشهودو جرمونو څخه پرته بي د جمهور رئیس له موا فقي، نه توقیف کیږی او نه د تعقیب وړ دی.

د اساسی قانون په شورا پوری مربوطی نوری چاری په اړوند قانون کی تنظیم شوی دی.

**ایران**

د ایران د اسلامي جمهوریت د اساسی قانون طرح د دولت له خوا جوړه شوه او بیا د خبره‌گانو مجلس چی د خلکو له استازو څخه جوړ و، د خلکو د مختلفو ډلو د پیشنهادونو په نظر کی نیولو سره د نوموړی طرحي د څیړلو کار پای ته ورساوه.

د اساسی قانون نوموړی طرحه د ۱۳۵۸ کال د حمل په یوولسمه نیټه رفراندم ته وسپارل شوه او د ټولو هغو کسانو په سلو کی

(۹۸،۲) چې د رای ورکولو د حق لرونکی وو د اساسی قانون طرحی ته مثبته رایه ورکړه او بالاخره د ایران داسلامی جمهوریت اساسی قانون چې (۱۲) فصلونه او (۱۷۵) اصلونه (مواد) لری د ۱۳۰۸ کال د عقرب په څوار لسمه نیټه د مجلس د ټولو استازو له خوا په دوو ثلثو رایو سره په نهایی توګه تصویب شو.

د ایران د اسلامي جمهوریت اساسی قانون د ۱۹۸۹ کال د جولای په اته ویشتمه نیټه ملی رفراندم ته وسپارل شو چې د هغې په نتیجه کې د اساسی قانون (٤٥) مادی تعدیل او (۲) نوی مادی پکی زیا تی شوی.

د اساسی قانون په تعدیل کې د ځینو نورو بدلونونو په ترڅ کې د جمهور رئیس واکونه زیات شوی او د حکومت په ترکیب کې د صدراعظم پست له مینځه وړل شوی دی چې پدی توګه حکومت د جمهور رئیس د مشری لاندی کار کوی.

د اساسي قانون د اوه پنځو سمی مادی د تعدیل سره سم د ایران په اسلامي جمهوریت کې حاکمی قواوی د مقننه، مجربه او قضائیه قواو څخه عبارت دی چې د اساسي قانون د اصولو سره سم د ولایت امر او امامت تر نظر لاندي اعمالیږی. نوموړی قواوی له یو بل څخه جلا او په لاندی ډول دی:

**مقننه قوه:**

اسلامي مشورتي مجلس* د ملت د (۲۷۰) تنو استازو څخه جوړیږي او غړي یې د (٤) کلونو لپاره د خلکو له خوا په مستقیمو او مخفي رایو سره انتخابیږي.

د عمده تقنیني چارو په هکله د خلکو مستقیم رایو ته مرا جعه کیدلی شي.

**مجریه قوه:**

پرته له هغه مواردو څخه چې په اساسي قانون کې د رهبري واك ګنل شوي دي، د مجریه قوې دندي د جمهور رئیس او وزیرا نو له لاري سرته رسیږي. جمهور رئیس د (٤) کلونو لپاره د خلکو له خوا په مستقیمه توګه انتخابیږي او انتخابیدل یې دیوې بلې متوالي دورې لپاره ممانعت نه لري.

د کابینې وزیران د جمهور رئیس له خوا کاندید او د باور د تر لاسه کولو لپاره اسلامي مشورتي مجلس ته معرفي کیږي.

**قضائیه قوه:**

قضاء یوه مستقله قوه ده چې د فردي او ټولنیزو حقوقو حمایه کوي او د عدالت د تطبیق مسوولیت په غاړه لري. د هیواد ستره محکمه (دیوان عالي کشور) په محکمو کې د قانون د صحیح اجراء د قضایي

---

* مقننه قوه دایران داسلامي جمهوریت د اساسي قانون په پارسي متن کې د ملي شورا د مجلس په نامه یاده شوې ده، خو د اساسي قانون په تعدیل کې چې د تهران تایمز نړیوالې اووه نیزې د ۱۹۸۹ کال د اګست د دریمې نیټې په ګڼه کې خپور شوی دی مقننه قوه د اسلامي مشورتي مجلس په نامه یاده شوې ده.

روپې د وحدت او د نورو مسئولیتونو د تر سره کولو په مقصد چې د قانون له مخې ورته سپارل کیږي، د هغو ضابطو سره سم فعالیت کوی چې د قضاء دعالی شورا له خوا تنظیمیږی.

عدلیه وزیر د مقننه او مجریه قواو سره د قضائیه قوی داړیکو د ټینګولو مسئو لیت لری او د لازمو عدلی تشکیلاتو د ایجاد، د قضائي لا یحو د جوړولو او د قاضیانو د استخدام، عزل او نصب ترفیع او تبدیل په مقصد قضائي عالي شورا جوړیږی.

**ساتونکی شورا***:

د ایران د اسلامي جمهوریت د اساسی قانون له (۹۱) څخه تر (۹۹) پوری اصلونه ساتونکی شورا ته وقف شوی دی. ساتونکی شورا د اسلامی او اساسی قانون د حکمونو د ساتنې په مقصد چې د اسلامی مشورتی مجلس مصوبې ورسره مغایرت ونه لری د (۱۲) تنو غړو په ترکیب د (۶۹) کلونو لپاره انتخابیږی.

د اسلامی مشورتی مجلس ټولی مصوبې ساتونکی شورا ته استول کیږی او ساتونکی شورا باید د لسو ورځو په موده کی د اسلامی او اساسي قانون له موازینو سره د نوموړو مصوبو د سمون په هکله خپل نظر وړاندی کړی او که هغه مغایری تشخیص کړی باید د نوی کتنی لپاره یی اسلامی مشورتی مجلس ته واستوي او له هغه پرته مصوبه داجراء وړ ده.

---

* نوموړي شورا د ایران د اسلامي جمهوریت د اساسی قانون په پاړسی متن کی د «شوای نگهبان» په نامه یاده شوی ده.

که چیری ساتونکی شورا د (۱۰) ورځو موده د څیړلو او نظر ورکولو لپاره کافي و نه ګڼي د دلایلو په ذکر سره د اسلامي مشورتي مجلس څخه لس ورځې نور مهلت اخلي. د ساتونکی شورا غړي کولای شي چې د کار د چټکتیا په مقصد د اسلامي مشورتي مجلس په غونډو کې برخه واخلي. که چیری یوه طرحه یا لایحه په فوري توګه د مجلس په اجنداء کې شامله وي باید د نوموړې شورا غړي مجلس ته حاضر شي او خپل نظر څرګند کړي.

ساتونکې شورا د اساسي قانون تفسیر په غاړه لري او د رهبري شورا، دخبره‌ګانو شورا، د جمهور رئیس او اسلامي مشورتي مجلس په انتخاباتو او همدا رنګه په رفراندم او عمومي نظر غوښتنې باندې څارنه کوي.

## شوروي اتحاد

د شوروي اتحاد لومړی اساسي قانون په ۱۹۱۸، دویم اساسي قانون په ۱۹۲۶، دریم اساسي قانون په ۱۹۳۹ او څلورم اساسي قانون چې تر اوسه پورې نافذ دی په ۱۹۷۷ کال کې تصویب شوی دی.

د شوروي اتحاد اوسنی نافذ قانون د ۱۹۷۷ کال د اکتوبر په اوومه نیټه د شوروی سوسیالیستی جمهوریتونو د اتحاد دعالي شورا په اوومه فوق‌العاده اجلاسیه کې په (۲۱) فصلونو کې تصویب شوی دی. د شوروي اتحاد اساسي قانون په دې هیواد کې د نوی سیاسی تفکر له مخې د «پریستروئیکا» او «ګلاسنوست» د اصولو په بناد ۱۹۸۸ کال د نوامبر د نهه‌ویشتمی نیټی څخه د دسامبر تر لومړی نیټی پوری د عالي شورا په دولسمی خاصی اجلاسیه کې د یو قانون* د تصویب له مخې تعدیل شو

د نوموړي قانون د تصویب په نتیجه کې چی د شوروي اتحاد د اساسي قانون ضمیمه یې ګڼلی شو، د اساسي قانون د دولسم، دیارلسم او پنځلسم فصلونو (۶۹) مادی تعدیل شوی دی چې د شوروي اتحاد په دولتی سیستم کې ژور بدلونو نه را مینځ ته شوی او ځینی نوی اورګانونه جوړ شوی دی.

برسیره پردی په پورتنی اجلاسیه کې د خلکو د استازو د انتخابولو په هکله نوی قانون نافذ شوی دی. مونږ به په لاندنیو کرښو کې د شوروي اتحاد دولت اورګانونه په لنډه توګه معرفی کړو او بیا به د اساسي قانون د څارنی د کمیټی په هکله چی یو نوی اورګان دی رڼا واچوو:

**د خلکو د استازو کانګرس:**

* Law of the ussr on Changes and Amendents of the Constitution of the ussr. Moscow, the Kremlin, December. ۱۹۸۸

د شوروي اتحاد د خلکو د استازو کانګرس د شوروي اتحاد تر ټولو لوړ دولتي اورګان دی چې (۷۵۰) تنه غړی لري او د خلکو له خوا نه د (۵) کلونو لپاره انتخابیږي. د خلکو استازو کانګرس چې یو نوی تاسیس شوی اورګان دی، ډیر پراخه واکونه لري چې مونږ یې ځینې انحصاري واکونه په لاندې ډول بیانوو:

- د شوروي اتحاد د اساسي قانون تصویب او تعدیل.
- د شوروي اتحاد د کورنی او باندنی سیاست د اساسی کرښو ټاکل.
- د شوروي اتحاد د عالی شورا د رئیس ټاکل
- د شوروي اتحاد د اساسي قانون د څارنی د کمیټی انتخابول.

ـ د شوروي اتحاد د وزیرانو د شورا د رئیس، د دولتي کنترول د کمیټی د رئیس او د ستری محکمی د رئیس او لوی څارنوال د ټاکلو په باب د اړوندو اورګانونو د پیشنهاد تائیدول.

**عالی شورا:**

د شوروي اتحاد عالي شورا د شوروي اتحاد د خلکو د استازو کانګرس د غړو څخه په سری توګه انتخابیږي.

د شوروي اتحاد عالي شورا په دوه خونه ییز سیستم سره د اتحاد له شورا او ملیتونو د شورا څخه جوړه شوی ده او دواړه شوراګانی مساوی غړی لري.

د شوروي اتحاد عالي شورا د قانون جوړولو او دولتي کنټرول همیشه فعال اورګان دی او ځینی واکونه یې په لاندی ډول دی:

- د وزیرانو د شورا په پیشنهاد د وزیرانو شورا د ترکیب تصویبول.
- د قانون تفسیر.
- دشوروي اتحاد د دفاع د شورا جوړول.
- د شوروي اتحاد د نړیوا لو تړونونو تصویبول او لغوه کول.

**رئیسه هیئات:**

د شوروي اتحاد عالي شورا یو رئیسه هیئت لری چی ترکیب او واکونه یې په اساسي قانون کی توضیح شوی دی.

**د وزیرانو شورا:**

د شوروي اتحاد د وزیرانو شورا له رئیس، مرستیالانو، وزیرانو او د دولتي کمیټو له رئیسانو څخه متشکله ده او د دولت د تر ټولو لوړ اجرائیوی او اداری اورګان په توګه اړوندی دندې سر ته رسوی.

**ستره محکمه:**

د شوروي اتحاد ستره محکمه تر ټولو لوړ قضایي اورګان دی چې په خپل ترکیب کی رئیس، مرستیالان او لاندینی مقامات لری:

الف: د ستری محکمی پلینوم.
ب: د ستری محکمی مدنی دیوان.
ج: د ستری محکمی جزایي دیوان.
د: د ستری محکمی پوځی دیوان.

د ستري محكمې په پلينوم کې د ستري محكمې رئيس، مرستيالان او ټول غړي شامل دي او لږ تر لږه په هرو درې مياشتو کې يو ځل د ستري محكمې د رئيس له خوا بلل کيږي.

که د شوروي اتحاد لوی څارنوال يا د ستري محكمې رئيس د ستري محكمې د ديوانونو يا د جمهوريتونو د سترو محكمو په پريکړو اعتراض ولري، د ستري محكمې پلينوم پرې غور او فيصله کوي.

د ستري محكمې په پلينوم کې د لوی څارنوال گدون حتمي دی خود رای ورکولو حق نه لري.

په شوروي اتحاد کې د عدالت عمده اصول په لاندې توگه دي:

١. قضاوت يوازې د محكمې له خوا کيږي.
٢. د محكمې قاضيان په ټولو پړاوونو کې د اړوندو شوراگانو له خوا انتخابيږي.
٣. د مسلکي قاضيانو تر څنگه د خلکو منصفين په قضاوت کې برخه اخلي.
٤. قاضيان د حکم په صادرولو کې مستقل او يوازې د قانون تا بع دي.
٥. محاکمه په علني توگه کيږي، مگر دا چې قانون په خاصو حالاتو بل ډول حکم کړی وي.
٦. تورن د دفاع حق لري.
٧. اتباع د محكمې او قانون په وړاندې برابر حقوق لري.

**څارنوالي:**

لویه څارنوالي په شوروی اتحاد کې د مرکزیت د اصولو په بنا د قانونیت د ټینګښت یو ستر اورګان دی او د ټولو وزارتونو، دولتی کمیتو، ادارو، تصدیو، د خلکو د سیمه‌ایزو شوراګانو د اجرائیه اورګانونو، کلخوزونو، کوپراتیفونو او نورو ټولنیزو سازمانونو او اتباعو له خوا د قوانینو په یو شان تطبیق باندی څارنه د لوی څارنوال او د هغه د تر لاس لاندی څارنوالانو په غاړه ده.

د څارنوالی اورګانونه د سیمه ایزو اورګانونو څخه خپلواك او یوازی د لوی څارنوال تابع دی. د څارنوالی تشکیل، ترکیب، واك او د فعالیت څرنګوالی د قانون په واسطه تنظیمیږی.

**د اساسی قانون د څارنی کمیته:**

لکه چی د مخه مو وویل د شوروي اتحاد د اساسي قانون د تعدیل له مخي د شوروي اتحاد په دولتی سیستم کی ځینی نوی اورګانونه رامینځ ته شوی چی لدی جملی څخه هم یوه د شوروي اتحاد د اساسی قانون د څارنی کمیته ده.

د اساسي قانون د څارنی کمیته رئیس، مرستیال او (۲۱) تنه غړی لری چی د شوروي اتحاد د خلکو داستازو د کانګرس له خوا د سیاست او حقوق‌پوهانو له جملی څخه د (۱۰) کلونو لپاره انتخابیږی. د کمیټی په نوموړی ترکیب کی باید د هر متحده جمهوریت استازی ګډون و لری.

د اساسي قانون د څارنې کمیټه د خپلو دندو په سر ته رسولو کې خپلواکه او یوازې د اساسي قانون تابع ده. د اساسي قانون د څارنې کمیټه لاندنۍ واکونه لري:

١ په خپل ابتکار یا د خلکو د استازو د کانګرس په لارښوونه د شوروي اتحاد د اساسی قانون سره د قوانینو د طرحو د سمون په هکله چې کانګرس ته د تصویب لپاره وړاندې شوې دي، د قرار صادرول.

٢ په خپل ابتکار یا د خلکو د استازو د کانګرس په لارښوونه یا د شوروي اتحاد د عالي شورا یا د شوروي اتحاد د متحده جمهوریتونو د لوړو دولتي اورګانونو په پیشنهاد د اساسی قانون او هغه قوانینو سره چې د خلکو د استازو د کانګرس له خوا تصویب شوې دي، د شوروي اتحاد دعالی شورا او دهغې د مجلسونو د مصوبو او د نوموړو اورګانونو د قوانینو د طرحو د سمون لرلو په هکله قرار صادرول.

٣ د شوروي اتحاد د اساسي قانون او د شوروي اتحاد د قوانینو سره د متحده جمهوریتونو د اساسي قوانینو او نورو قوانینو او همدارنګه د شوروي اتحاد د وزیرانو د شورا او د متحده جمهوریتونو د فرمانونو د سمون لرلو څارنه کول.

٤ په خپل ابتکار یا د خلکو د استازو د کانګرس په لارښوونه یا د شوروي اتحاد د عالي شورا، د عالي شورا د مجلسونو او یا د وروي اتحاد د عالی شورا د رئیسه هیئات، د رئیسه

هیئات د صدر، د عالي شورا د مجلسونو د دایمی کمیسیونونو، د عالی شورا د کمیتو، د شوروي اتحاد د وزیرانو شورا یا د متحده جمهوریتونو د دولتی قدرته لوړ اورګانونو په پیشنهاد د شوروی اتحاد د اساسی قانون او د شوروي اتحاد د قوانینو سره د دولتي اورګانونو او اجتماعی سازمانونو د قوانینو د سمون لرلو په هکله قرار صادرول.

که چیری نوموړی قوانین یا د هغو ځینی حکمونه د شوروي اتحاد د اساسی قانون یا د قوانینو سره تناقض ولری د اساسی قانون د څارنی کمیته اړوندو اورګانونو ته قرار صادر وی چی تناقض له مینځه یوسی. نوموړی متناقض قوانین یا متناقض حکمونه د اساسی قانون د څارنی د کمیټی د قرار د صادرولو له نیټی څخه اعتبار نه لری.

د اساسي قانون د څارنی د کمیټی تشکیل او د کار څرنګوالی د قانون په واسطه تنظیمیږی.

## فرانسه

لکه چی د دی رسالی په پیل کې مو وویل د فرانسی لومړنی اساسي قانون په ۱۷۸۹ کال کی تصویب شوی دی او د نړی دویم لیکل شوی اساسي قانون ورته ویلی شو.

د فرانسې د دریم جمهوریت په موده کی (۱۸۷۵ کال) بل اساسی قانون تصویب شو. باید وویل شی چی د ۱۸۷۵ کال څخه تر ۱۹۴۰ کاله پوری د فرانسی دریم جمهوریت د دری اساسی قوانینو د حکمونو په اساس فعالیت کاوه. د دویمې نړیوالی جگړی په پیل کې د فرانسی د اشغال او د دریم جمهوریت د ړنگیدلو وروسته د ۱۹۴۰ کال د جولای په لسمه نیټه، ملی اسامبلی په «ویشی» کی نوی اساسي قانون تصویب او د هغه د انفاذ واك ېی مارشال پیتن ته ورکړ.

د ١٩٤٦ کال د سپتامبر په اته ویشتمه نیټه د موسسانو ملی اسامبلی د فرانسی قانون طرح او د همدی کال د اکتوبر په دیارلسمه نیټه په یو رفراندم کی تائید او څلورم جمهوریت مینځ ته راغی. د فرانسی اوسنی نافذ اساسي قانون د پنځم جمهوریت لپاره د ۱۹۵۸ کال د اکتو بر په څلورمه نیټه د جنرال دوگول په وخت کی د فرانسی د ملت له خوا تصویب شوی دی چی تر اوسه پوری د ځینو تعدیلاتو سره اعتبار لری.

د نوموړی اساسی قانون له مخې د دولت دری کونی قواوی په لاندی توگه تنظیم شوی دی.

**اجرائیه قوه:**

اجرائیه قوه د جمهور رئیس په لارښوونه چی په مستقیمه توگه د خلکو له خوا د (۷) کلونو لپاره انتخابیږی، فعالیت کوی. جمهور رئیس، صدراعظم، وزیران او د دولت سکرتران د حکومت په ترکیب

کې شامل دی. جمهور رئیس صدراعظم ټاکی او استعفاپی منی. وزیران د صدراعظم په پیشنهاد د جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږی. جمهور رئیس د وزیرانو د شورا ریاست په غاړه لری.

**مقننه قوه:**

پارلمان د ملي اسامبلی او سنا له دوو مجلسونو څخه جوړ شوی دی.

ملی اسامبله (۴۸۷) تنه غړی لری او مستقیماً د خلکو له خوا د یوی (۵) کلنی دوری لپاره انتخابیږی.

د سنا مجلس (۲۸۳) تنه سنا توران لری چی د (۹) کلونو لپاره دخلکو له خوا نه په غیرمستقیمه توګه انتخابیږی. د سناد مجلس یو ثلث غړی هر دری کاله وروسته بدلیږی.

**قضائیه قوه:**

جمهور رئیس د قضاء د استقلال ضامن ګڼل شوی دی او له هغه سره پدی هکله د قضاء عالي شورا مرسته کوی.

جمهور رئیس د قضاء دعالي شورا ریاست په غاړه لري او د عدلیی وزیر یې مرستیال دی.

د قضاء عالي شورا (۹) تنه غړی لری چی د جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږی.

د ملی خیانت د ارتکاب په حالت کې د جمهور رئیس، صدراعظم، وزیرانو او د دولت د سکرترانو د محاکمې لپاره د قانون سره سم د عدالت عالی دیوان جوړېږي.

**د اساسی قانون شورا:**

په فرانسه کې د اساسی قانون سره د قوانینو د سمون لرلو د څارنې په مقصد د څلورم جمهوریت د ۱۹۴۶ کال د اکتوبر په اساسی قانون کې د اساسي قانون د کمیټې په نامه د یو اورګان د تشکیل اټکل شوی و چې مشري يې دجمهور رئیس په غاړه وه او د ملي اسامبلی او د جمهوریت د شورا په رئیسانو يې بر سیره (۱۰) تنه نور غړي درلودل چې (۷) تنه يې د ملی اسامبلی او (۳) تنه يې د جمهوریت د شورا له خوا انتخابیدل.

د پنځم جمهوریت د ۱۹۵۸ کال د اکتوبر په اساسي قانون کې «د اساسی قانون کمیټه» لغوه او دهغې پر ځای «د اساسی قانون شورا» د ډیرو لوړو او پراخه واکونو سره ایجاد شوه. څکه چې د اساسی قانون شورا د اساسی قانون سره د نورو قوانینو د سمون لرلو په څیړنې برسیره د جمهور رئیس د انتخابیدلو او د رفراندوم د قانونیت څارنه هم کوی او همدارنګه د وکیلانو او سناتورانو د انتخاباتو د قانونیت څارنه او د اساسی قانون سره د بین‌المللی تړونونو د سمون لرلو څیړنه کوی.

د فرانسی د اساسی قانون شورا که څه هم چې ظاهراً یو غیرقضائی اورګان دی* خو د هغې تصامیم نافذ او حتی د محکمی له حکم څخه لوړ اعتبار لری او د فرانسی د اساسی قانون دوه شپیتمه ماده حکم کوی چی د اساسي قانون د شورا تصمیمونه د اعتراض وړ نه دی او عامه ځواکونه او اداری او قضايي مقامونه د هغو په اجراء (۳) تنه نور غړی د سنا د رئیس مکلف دی.

د اساسی قانون شورا (۹) تنه غړی لری چی د (۹) کلونو د مودی لپاره کار کوي او د بلی دوری لپاره د تجدید وړ نه دی.

د اساسی قانون د شورا (۳) غړی د جمهور رئیس، (۳) تنه غړی د ملي اسامبلې له خوا او (۳) تنه نور غړی د سنا د رئیس له خوا ټاکل کیږی. پدی غړو برسیره د فرانسی ټول پخواني جمهور رئیسان د اساسی قانون د شورا غړیتوب لری. د اساسی قانون د شورا رئیس جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږی.

اورګانیك قوانین له نا فذیدلو او پارلمانی مقررات له اجرا تر مخه د اساسی قانون شورا ته استول کیږی او نوموړی شورا د هغو په هکله خپل نظر څرګندوی.

---

* دکتور محمداحسان روستامل په خپل اثر «حقوق اساسی مقایسوی. کابل دلو ۱۳۵۲ ص۱۸۱» کی د فرانسی د اساسی قانون شورا یو قضايي اورګان ګڼلی دی او هغه يي د قضايي اورګانونو تر عنوان لاندی څیړلی ده. مګر دکتور منذرالشاوی په خپل اثر «القانون الدستوری ـ بغداد ۱۹۸۱، ص ۸۴-۸۵» کی د فرانسی د اساسی قانون شورا پیو غیرقضايي اورګان ګڼلی او نوموړی شورا يي د غیرقضايي څارنی تر عنوان لاندی څیړلی ده.

د عین مقصد لپاره قوانین له نفاذ څخه ترمخه د جمهور رئیس، صدراعظم، د ملي اسامبلی د رئیس، د سنا د رئیس، د ملی اسامبلی او یا د سنا دمجلس د (۶۰) غړو له خوا د اساسی قانون شورا ته استول کیږی. په نوموړو حالاتو کی با ید د اساسی قانون شورا د یوی میاشتی په موده کی غو نډه وکړی خو سره لدی هم په عاجلو حالاتو کی د حکومت له غوښتنی سره سم نوموړی موده (۸) ورځو ته ښکته کیدلی شی.

څه وخت چی د اساسی قانون شورا د اساسی قانون سره د قوانینو سمون نه درلودل اعلان کړی، نوموړی حکمونه خپل اعتبار له لاسه ورکوی.

د اساسي قانون د شورا واکونه او د فعالیت څرنگوالی د یوه اورگانیك قانون په واسطه تنظیمیږی.

## هنګري

هنګري د نړيوالی لومړی جګړی څخه پخوا شاهي نظام درلود او د اطريش- هنګری د امپراطوری يوه برخه وه. د ۱۹۱۸ کال د نوامبر په ديارلسمه نيټه په هنګری کی جمهوری رژيم مينځ ته راغی خو بيا د ۱۹۲۰ کال د مارچ په در ويشتمه نيټه بيرته شاهی رژيم جوړ شو.

د دويمی نړيوالی جګړی وروسته په هنګری کی نوی اساسی قوانين جوړ شول چی لومړی يی د ۱۹٤٦ کال د جنوري په يوديرشمه او بل يی د ۱۹٤۹ کال د اګست په مياشت کی نافذ او د نوموړو اساسی قوانينو له مخي د هنګری د خلکو جمهوريت جوړ شو.

د هنګری د خلکو د جمهوريت د اوسنی نافذ اساسی قانون له: مخی دولتی اورګا نونه په لاندی ډول دی*

**پارلمان:**

پارلمان د دولتی قدرت تر ټولو لوړ اورګان دی چی غړی يی د خلکو

---

* څه وخت چی ما د دی رسالی په هکله خپل يادداشتونه راټولول، د ځينو خبری منابعو څخه مي واوريدل چی د هنګری د خلکو د جمهوريت اساسی قانون نوی شوی او همدا رنګه نوموړی هيواد «د هنګری جمهوريت» په نامه نومول شوی دی.

خو څرنګه چی په دی هکله تر اوسه باوری تقنينی سندونه زما لاس ته ندی راغلی، نو د هنګری دولتی سيستم د پخوانيو او لاس ته راغلو تقنينی سندونو او حقوقی منا بعو په بنا څيړل شوی دی.

له خوا د یوی څلور کلنی دوری لپاره انتخابیږی.

پارلمان په خپله لومړني غونډه کې د خپلو غړیو له جملی څخه د رئیس، دوه مرستیالانو او (۱۷) تنو غړو په ترکیب سره رئیسه هیئات انتخابوی.

**د وزیرانو شورا:**

- د وزیرانو د شورا ترکیب په دی ډول دی:
- د وزیرانو د شورا د رئیس مرستیالان
- د وزیرانو د رئیس مرستیالان
- د دولت وزیران
- هغه وزیران چی د وزارتونو په راس کی ځای لری او د ملی پلان جوړولو د اداری رئیس.

د وزیرانو شورا د رئیسه هیئات په پیشنهاد د پارلمان له خوا ټاکل کیږی.

**قضاء:**

په هنگری کی قضاوت د ستری محکمی او سیمه ایزو محکمو له خوا کیږی.

ستره محکمه تر ټولو لوړ قضایی اورگان دی او د ترلاس لاندی محکمو لارښوونه کوی. قاضیان انتخابی دی او د ستری محکمی رئیس د پارلمان له خوا د (٤) کلونو لپاره انتخابیږی او پارلمان ته د ستری‌محکمی د فعالیت د راپور ورکولو مکلف دی.

**ښارنوالی:**

ښارنوالی د دولتي اورګانونو، ټولنیزو سازمانونو او د خلکو له خوا د قانون په تطبیق ښارنه او په محکمو کې دعوا اقامه کوی.

لوی ښارنوالی د پارلمان له خوا د (٤) کلونو لپاره ټاکل کیږی. پارلمان ته مسئول دی، نور ښارنوالان ټاکی او د ښارنوالی د اورګانونو لارښوونه کوی.

**د اساسي قانون شورا:**

د اساسی قانون شورا د یوولسو څخه تر اووه لسو تنو پوری غړی لری چی د پارلمان له خوا د (٤) کلونو لپاره انتخابیږی. د اساسي قانون د شورا غړی پارلمانی مصوونیت او د پارلمان په وړاندی مسوولیت لری. د اساسی قانون شورا د اساسی قانون سره د تقنینی سندونو، د ستړې محکمې د پریکړو، د وزیرانو د شورا ،د وزیرانو، د لوی ښارنوال او سیمه ایزو اورګانو نود تصمیمونو د سمون لرلو ښارنه کوی.

د اساسی قانون شورا کولای شی چی نوموړی دندی په خپل ابتکار او یا د پارلمان، د جمهوری ریاست د شورا، د ستری محکمی د رئیس، لوی ښارنوال، د ټولنیزو سازمانونو د مشرتابه او د بوداپست د ښاروالي په پیشنهاد سر ته ورسوی. د اساسي قانون د شورا تصامیم د پارلمان د تائید څخه وروسته تنفیذ او په رسمی جریده کې خپریږی.

**د عبدالوهاب صافی لنډ ژوندلیك**



د هیواد پیژندل شوی قانونپوه، عبدالوهاب صافي د (۱۳۱۹) کال د کونړونو په هزار دره کي زیږیدلی دی، لومړنۍ زده کړې یې د ننگرهار ولایت د افغانی سید جمال‌الدین په ښونځی کی پای ته رسولی او په (۱۳۴۱) کال کی د کابل پوهنتون د شرعیاتو له پوهنځی څخه فارغ شوی دی.

د پوهنتون څخه د فراغت وروسته یې په بیلابیلو اداری - حقوقي او قضائی لوړ رتبه دولتی بستونو کی دندی سر ته رسولی، په ۱۳۶۰، ۱۳۶۱ او ۱۳۶۲ کلونو کی یې د افغانستان د عدلیه وزیر او لوی څارنوال په توگه کار کړی دی او د (۱۳۶۷) کال را پدی خوا د افغانستان جمهوریت د اساسی قانون د شورا ریاست په غاړه لری. عبدالوهاب صافي د دولتي لوړو دندو ترڅنگه د حقوقو او سیاسی علومو په پوهنځی او نورو تحصیلی مو سسو کی د لکچرر (استاد) په توگه تدریس کړی او د قانون جوړولو په بیلابیلو څانگو کی یې علمی څیړنی او عملی کارو نه سر ته رسولی دی. عبدالوهاب صافی د حقوق‌پوهانو د ټولنی د رئیسه هیئات غړی دی او د افغانستان په جمهوریت کی د قانون‌پوه (د قانون جوړولو د پروفیسور) تر ټولو لوړ علمی مقام لري.

https://rahparcham۱.org